د افغاني سرې میاشتې ټولنه
جمعیت هلال احمر افغانی

# سره میاشت

د افغاني سرې میاشتې دوه میاشتنۍ خپرونه

٦٦م خپرنیز کال، اووم پړاو، ٨٦ یمه گڼه



هلال احمر افغانی در همه جا برای همه



تقلیل آلام بشری اولویت خدمات بشر دوستانه است.




افغاني سره میاشت د طبیعي او غیرطبیعي پېښو د پېښځپلو د کړاوونو کمولو ته لومړیتوب ورکوي.

بسم الله الرحمن الرحیم

عن ابی امامة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال:

(اتقوا النار ولو بشق تمرة)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

له اور څخه ځان وژغورئ که څه هم د کجورې په یوه ټوکړه وي. (حدیث شریف)

## د امتیاز څښتن:

د افغاني سرې میاشتې ټولنه


**خپرندویه اداره:**

د اطلاعاتو او خپرونو ریاست

عمومي مدیر: محمد موسی اواب

ګرافیک ډیزاین: هجرت الله میوند

**د اړیکي شمېره:**

۰۷۲۸۹۰۰۶۷۴

**پست بکس:**

۳۰٦٦

**پته:**

افغانستان، کابل، پینځمه ناحیه، افشارسیلو، د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر

www.arcs.af ir@arcs.af

@arcsafghanistan

۱٤٤٥ سپوږمیز کال

(محرم، صفر)


## لیکلړ


د سرپرست عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص ............... ۱

بابا ! ما بچ کړه خولې ته مې خاورې راغلې............................. ۳

بشردوستانه حقوق ..................................................... ۴

کرامت انسانی.............................................................. ۷

د ننګرهار مرستون ..................................................... ۹

د شکرې ناروغي ......................................................... ۱۰

مصئـونیت ..................................................................... ۱۲

زلزلې ............................................................................ ۱۵

اوبه، پاکوالی او روغتیا ساتنه.............................................. ۱۷

برای تداوی بیماری سوراخ قلب به کجا مراجعه کنیم؟............. ۲۰

د اړمنو او حرفوي سوالګرو پېژندنه .................................. ۲۱

کله چرک یا ډېر غومبوری ......................................... ۲۳

خود کفایی.................................................................... ۲۴

شری .............................................................................. ۲۶

خطرات ناشی از فصل سرما.............................................. ۲۸

د دُعاء قلبېدل ډولونه او خنډونه .................................... ۳۰

د مهاجر او مهاجرت قوانین او ستونزې ............................. ۳۲

د سولې اهمیت ............................................................. ۳۴

کمک به دیگران............................................................ ۳۶

د رواني ناروغانو د ساتنې او پالنې مرکز........................... ۳۸



## سرلیکنه

# د لوېدلي لاسنیوی شرعي او انساني هدف

دسرې میاشتې بنسټ پېښځپلو، رنځورانو، بې وزلو او اړمنو ته د مرستې رسولو او خدمت کولو په موخه ایښودل شوی، تر څو وکولای شي د بشرپالنې پر بنیاد د هغوی د انساني کرامت ساتنه وکړي او د هغوی د کړاوونو، غمونو او دردونو پېټی سپک کړي، ځکه دا ډول انسانان له دوه حالتونو څخه په یوه حالت کې حتما قرار لري، د یوې ډلې حالت داسې وي، چې هغوی له هرې خوا نا هیلې وي او هېڅ لور ته د خپل د خلاصون لپاره لار نه مومي، دا ځکه چې خپل روان یې له لاسه ورکړی وي او هېڅ نشي کولای.

بله هغه پېښځپلې ډله ده، چې ډاډه ده او هیله لري، چې خامخا به یې څوک مرسته کوي. په دواړو حالتونو کې نور انسانان پدې مکلف دي، چې د هغوی لاسنیوی وکړي. داسې انساني عاطفه په ټولو انسانانو کې په ځانګړې توګه په مسلمانانو کې شته، چې پروت انسان به له لاسه نیسي او په پښو به یې دروي، نو ځکه خو هم هر بېدای مسلمان په دې فکر کې وي، چې له بې وزلو سره مرسته وکړي، خو چې دا مرسته به کله کوي، څنګه به یې کوي، له چاسره به یې کوي، ریښتونی مستحق به څنګه مومي، هغه پوښتنې دي، چې د مرستې د کېدلو په وخت خنډ واقع کېږي، د ناڅاپه طبیعي پېښو په صورت کې د هر چا هیله دا وي، چې لږ یا ډېره مرسته مې کړې وی، خو دا ټول هغه تصمیمونه دي، چې له وخت څخه وروسته نیول کېږي او که نیول کېږي هم یو منسجم او تنظیم شوی شکل نلري، لومړنی اړتیاوې نه پېژني، د مرستې په وېشلو کې له ستونزو سره مخ کېږي، له چاسره ګڼو کسانو څو څو ځله مرسته کړې وي او څوک ترې محروم پاتې وي، نو له دې امله لازمه ده، چې هېوادوال خپله افغاني سره میاشت و پېژني، له کړنو، فعالیتونو او شفافیت څخه یې ځانونه خبر کړي، خدماتي ځانګې یې وپېژني او په پالیسی یې ځان پوه کړي، پدې اړه د افغاني سرې میاشتې د نشراتو ریاست بشپړه منډه تړه کوي، سایتونه، مجازي پاڼې، پنځلس ورځنۍ جریده، دوه میاشتنۍ مجله او داسې نورې مطبوعاتي خپرونې لري، چې هېوادوال کولای شي له دې لیارې له یادو موضوعاتو ځان خبر کړي او پدې ډاډمن شي، چې سره میاشت په هر ولایت کې د نماینده ګۍ په درلودلوسره او په هره نماینده ګۍ کې د روزل شویو رضاکارانو، روغتیاپالانو، نرسانو، کارکوونکو، د خوراکي او غیر خوراکي موادو د ګودامو او نقلیه وسایلو په درلودلو سره هره شیبه د پېښې په لومړنیو شیبو کې خواب وینې ته چمتو وي، د هېواد په داسې سیمو کې، چې خلک یې روغتونو ته په آسانی نشي رسېدی ثابت او ګرځنده کلینیکونه لري، په پنځه ولایتونو کې مرستونونه لري، چې هلته د بې سرپرسته کورنیو ساتنه، پالنه او روزنه کېږي، نو پکار ده، چې د هېواد بډایان او عام وګړي افغاني سره میاشت یو غوره وسیط وګڼي او له دې لارې له بې وزلوسره د مرستې لپاره مټ ونغاړي او خپله هره وړه او غټه مرسته اړمنو ته په خپل مناسب وخت ورسوي، دا ثابته کړي، چې افغانان ټول سره ورونه دي، داسې ورونه، چې یوه لوېدلي ته د مرستې ډېر لاسونه وړاندې کېږي، ځکه چې د لوېدلي لاسنیوی په ولاړو وګړو باندې شرعي او انساني حق دی او د افغاني سرې میاشتې ټولنه یوه داسې معتمده او معتبره ټولنه ده، چې امانتونه به خامخا اهل ته یې سپاري.

اداره




# سریلانکا ته

# د سرپرست عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص سفر

د ذوالقعدې په ۱۷ مه د سریلانکا هېواد په پلازمېنه کولمبو کـــــې د سیمې لپاره د ملي ټولنو د نړیوال فدراسیون د مشر الگزانـدر میتیو په گډون د جنوبي آسیا د هېوادونو : افغانسـتان، هندوستان، پاکسـتان، بنگله دیش، مالدیف، بوتان، نیپال او سریلانکا د ملي ټولنو د اســتازو ترمنځ گډه ۳ ورځنۍ ناسته ترسره شوه.

ناسـتې ته د افغاني سرې میاشـتې سرپرســت عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص د افغاني سرې میاشـتې پر فعالیتونو، لاسـته راوړنو او شـته سـتونزو د خبرو ترڅنگ وویل"افغاني سره میاشـت ټول هېواد کې ۱۷۳ ثابت او گرځند روغتیایـي مرکـزونه لـري، چـې په ټول هېواد کې بېوزلو وکړو ته روغتیایي خدمات وړاندې کوي".

نوموړي وویل: "افغاني سره میاشـــــت یوازینۍ ملي ټولنه ده، چې د ســـوري زړه په رنځ د اخته ماشـــومانو وړیا درملنه کوي او روان کال توانېدلې په هېواد کې دننه بېلابېلو روغتونونو کې تر ۱۲۰۰ ماشومان تداوي کړي."

همدارنگه ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل"افغانســتان جگړو ځپلی او د جگړو له امله په کې ډېر ماشـومان یتیمان شـوي، ښـځې کونډې شوي او زیاتې کورنۍ بې سرپرسته پاتې دي، چې افغاني سرې میاشــتې د دوی د پالنې لپاره مرســتونونه تاســیس کړي؛ په یادو مرستونونو کې یې دوی ته د اوسېدو، خوراک، څښــاک، زده کړې او د ژوند اړینې اسانتیاوې چمتو کړي او یو شمېر نورو اړمنو کونډو ته یې په خپلو کورونو کې دننه میاشتنۍ نغدي مرسته چمتو کړې."

نوموړي همدا راز وويل "افغاني سره مياشت بېلابېلو ولايتونو کې له سوالګرو سره د مياشتنۍ نغدي مرستې بهير پر مخ وړي او د رواني ښځينه او نارينه ناروغانو د ساتنې او درملنې لپاره څو مرکزونه لري، چې تېرو څو مياشتو کې مو په دغو مرکزونو کې د ډېرو ناروغانو درملنه کړې او له سالمې روغتيا وروسته مو لسګونه تنه خپلو کورونو ته استولي او اوس عادي ژوند کوي".

ښاغلي مولوي مطيع الحق خالص افغاني سرې مياشتې ته ور پېښو ستونزو ته په اشاره وويل: "د افغانستان غرنۍ جغرافيوي موقعيت له نورو هېوادونو سره توپير لري، ډېرو سيمو کې مواصلاتي سيستمونه له منځه تللي، چې له همدې امله ليرې پرتو سيمو کې وګړو ته د ژوند اساسي خدمات وړاندې کول خورا ستونزمن کار دی او زيات لګښت ته اړتيا لري؛ دا چې د افغاني سرې مياشتې د کار ساحه پراخه ده، خو امکانات يې کم دي، نو لازمه ده نړيوال په يادو برخو کې زموږ همکارۍ او لاسنيوي ته را وړاندې شي".

په ورته وخت کې د سريلانکا پلازمېنه کولمبو کې د افغاني سرې مياشتې سرپرست عمومي رئيس مولوي مطيع الحق خالص د آسيا لپاره د ICRC له مسؤلې کريستين سيپولا سره افغانستان سره د بشري مرستو په اړه ناسته ترسره کړه.

ناسته کې د افغاني سرې مياشتې سرپرست عمومي رئيس ښاغلي مولوي مطيع الحق خالص وويل: "افغانستان کې وګړي له ګڼو ستونزو سره مخ دي؛ له همدې امله جدي اړتيا ده، چې دې سخت وخت کې يې په سمه توګه لاسنيوی وشي".

نوموړي وويل: "روان کال کې مو د عادي فعاليتونو ترڅنګ تمرکز د کونډو پر لاسنيوي، له سوالګرو سره پر مرسته، د رواني ناروغانو پر ساتنه او پالنه او د سوري زړه په رنځ د اخته ماشومانو پر درملنه دی، چې دا ټولې برخې پراخ لګښت ته اړتيا لري؛ موږ د نړۍ پر هېوادونو او خيريه بنسټونو غږ کوو، چې افغاني سرې مياشتې ته دې سخت وخت کې د مرستې لاس ورکړي".

ښاغلي مولوي مطيع الحق خالص وويل: "يو شمېر مرسته کوونکي غواړي موږ ته ډېرو برخو کې د مرستې لاس راکړي، خو د نړيوال بانک د بنديزونو له امله نشي کولی خپلې مرستې مستقيم افغانستان ته راولېږي، چې دې کار زموږ کارونه له خنډ او ځنډسره مخ کړي".

نوموړي وويل: "ددې ستونزې د حل په موخه مو بيا بيا هڅه کړې، خو کومه مثبته پايله يې نده ورکړې".

ناسته کې د آسيا لپاره د ICRC مسؤلې کريستين سيپولا د ښاغلي مولوي مطيع الحق خالص د خبرو په تائيد وويل: "موږ هڅې کوو؛ ترڅو افغانستان ته د کافي مرستو د جلب په موخه نوي مرسته کوونکي راجلب کړو او افغانستان ته د پيسو پر لېږد د بنديز موضوع ته د حل لارې پيدا کړو، چې په همدې موخه مو په وار وار له مسؤلينو سره خبرې کړې او دې برخه کې به خپلې هڅې لا ګړندۍ کړو".

نوموړي وويل: "موږ کوښښ کوو د مرستو د جلب په موخه د عربي نړۍ هېوادونو ته هم مخه کړو او هغوی د افغانستان راتلونکي مرسته کوونکي کړو، ځکه دې برخه کې شريکې همکارۍ ته اړتيا ده".





# بابا!

# ما بچ کړه خولې ته مې خاورې راغلې

خیال محمد (توحید یار)

یوه زورور درووند غرېو رپسې د ماشومانو او ښځینه وسویو کړیکو له درانه خوبه راپاڅولم، بهر راووتم، زموږ کور له کلي لږ څه په بره دی، لاندې منډې وې، کوز کلي ته مې منډه کړه.

د ژوبلو زگیرویو، د ماشومانو او تورسرو کړیکو او د حیواناتو بغارو د انسان حواس گډوډول، دې ته به حیران شوې، چې له کوم ځایه یې پیل کړم .

د نړېدلي چت تر بازوانو لاندې ماشومې (رمضانې) د ژوند وروستۍ جمله تکراروله:

ـ بابا ! ما وژغوره، خولې ته مې خاورې راغلې !

بابا د نسکور شوي دیوال له خاورو څخه د ځان را ایستلو ناکامه هڅه وکړه او د عذر په لهجه یې ژړونکي الفاظ له خولې راووتل:

ـ ماشومه وژغورئ، که زه شهید شم، پروا نه لري !

خو، د تقدیر پرېکړه بله وه، بابا وژغورل شو او ماشومه شهیده شوه.

سهار شو. د ماشومې (رمضانې) په شمول د بابا ( محمدرسول) له کوره شپاړس جنازې ووتې او بابا په خالي میدان، بې کوره او بې کسه پاتې شو.

زلزلې د پکتیکا ولایت، گیان ولسوالۍ، تشنکي کلی له ځمکې سره هوار کړی و، د لمر راختوسره سم، د سیمې له خلکو سره یو ځای ځینې نااشنا خلک چې بکسونه یې په شا و، کلي ته راغلل. دوی ځانونه د افغانۍ سرې میاشتې رضاکاران معرفي کول.

شهیدان یې له خاورو راوایستل، د ژوبلو او زخمیانو په زخمونو یې پټۍ ولگولې، یخني زیاته وه، باران لا هم خپل زړه نه و یخ کړی، ماشومانو چې له بېگاه راهیسې یې څه نه و خوړلي، ژړل، دوی ورته له ځانو سره لومړني خوراکي توکي راوړي و، کورونه په بشپړ ډول ویجاړ و، دوی خېمې ودرولې او لږ وروسته یې هغه سخت ټپیان چې بېړنۍ درملنې ته اړ و، کابل ته انتقال کړل.

څه موده وروسته یاد کسان بیا راغلل، کلي کې یې د خپرېدونکې ناروغۍ د مخنیوي لپاره کلینیک جوړ کړ او گرځنده روغتیایي ټیمونو کور په کور د ناروغانو درملنه شروع کړه. او بل ټیم یې د هغو خلکو نومونه ځان سره ثبت کړل، چې کورونه یې نړېدلي و او د یونیم کال پر لپسې هڅو وروسته یې دا دي موږ ته په عصري سیستم جوړ شوي کورونه وسپارل.

نومړې وویل: "موږ کوښښ کوو د مرستو د جلب په موخه د عربي نړۍ هېوادونو ته هم مخه کړو او هغوی د افغانستان راتلونکي مرسته کوونکي کړو، ځکه دې برخه کې شریکې همکارۍ ته اړتیا ده".



# بشردوستانه حقوق

لطيف الله قمري

## په نړيوالو اصولو کې د بشردوستانه حقوقو د تطبيق ساحه:

**لومړۍ برخه ـ له مادي پلوه د بشردوستانه حقوقو د تطبيق ساحه:**

په تېر مبحث کې د وسلوالو نښتو درې ډولونه په ګوته شوي:

**لومړی:**

هغه جګړه ده، چې د دوه يا زياتو دولتونو د نظامي ځواکونو ترمنځ د خپلو حقوقو او مصالحو د تحفظ لپاره نښتې وي.

دا ډول جګړه کې نړيوال بشردوستانه حقوق د تطبيق وړ دي، چې پدې اړوند دلاهای د ۱۸۹۹ ز دويم تړون متن صراحت لري.

**دويم ـ مدني جګړې:**

دا د حکومت او افرادو ترمنځ رامنځته کېږي، پخوا د مستعمره حکومتونو پر وړاندې وسلوال بغاوت او پاڅون هم مدني جګړې ګڼل کېدې او د نړيوال قانون لاندې نه راتللې، نو په همدې اساس بشردوستانه حقوق هم پرې د تطبيق وړ نه وه.

**درېيم ـ انتقامي جګړې:**

دا ډول وسلوال بريدونه د لويو جګړو مرحلې ته نه رسېږي، دا هغه عسکري عمليات دي، چې معلوم وخت او معلومې موخې لري، دا جګړې هم د نړيوال قانون تابع نه وي او په نتيجه کې پرې نړيوال بشري حقوق د تطبيق وړ نه دي.

**له دويم نړيوال جنګ څخه وروسته:**

کله چې د ملګرو ملتونو نړيوال سازمان رامنځته شو او پدې فيصله وشوه، چې مسائل به د خبرو له لارې حل کېږي د جګړې او قوې استعمال ته به اجازه نه ورکول کېږي، نو په نړيوالو تړونونو کې د جګړې پر ځای د (وسلوالې شخړې) اصطلاح وکارول شوه، د وسلوالې شخړې اصطلاح د هر ډول قوت استعمال ته کارول کېږي، هغه داخلي وي او که خارجي، د شخړې طرفونه نړيوال مشروعيت ولري او که نه، پدې ټولو حالتونو کې ورته د وسلوالې شخړې اصطلاح کارول کېږي.

لدې وروسته بيا له اشغال څخه د هېواد آزادول د ولس حق وګڼل شو، خو د آزادۍ جګړې د جنيف ۱۹۴۹ ز په څلورګونو تړونونو کې ځای نه درلود. له هغې وروسته ملګرو ملتونو د الحاقيه پروتوکولونو اړتيا احساس کړه او پدې سره په ۱۹۷۷ ز کې دوه الحاقيه پروتوکولونه رامنځته شول، چې په لومړي پروتوکول کې د نړيوالو وسلوالو شخړو او د آزادۍ د جګړې اړوند احکام ځای پر ځای شول او په دويم پروتوکول کې هغو وسلوالو شخړو څخه بحث وشو، چې نړيوال حيثيت نلري. نو په نتيجه کې نړيوال بشردوستانه حقوق په درې ډوله نښتو د تطبيق وړ وګڼل شول.

**لومړی ـ نړیوالې وسلوالې شخړې:**

نړیوالې وسلوالې شخړې پدې ډول تعریف کولی شو: دا د یو دولت لخوا د بل دولت پر ضد د وسلوالې قوې استعمال دی، چې د قوې دا استعمال قانوني وي او که غیر قانوني، په رسمي ډول د جګړې اعلان شوی وي او که نه.

**دویم ـ د هېواد د آزادۍ جګړې:**

د آزادۍ له جګړې څخه موخه د ولس لخوا د وسلوال پاځون ټول ډولونه دي، چې د اشغالګرو پر وړاندې یې ترسره کوي.

**دریم ـ نړیوال حیثیت نه لرونکې وسلوالې شخړې:**

دې ډول شخړو ته په پخواني نړیوال قانون کې مدني جګړې ویل کېدې، چې دا د نړیوالو بشردوستانه حقوقو تابع نه وې، خو نویو نړیوالو بشري حقوقو په نړیوالو تړونونو کې دا ډول جګړې هم داخلې کړې.

**دویمه برخه ـ د اشخاصو له پلوه د بشردوستانه حقوقو د تطبیق ساحه:**

د اشخاصو له پلوه د بشردوستانه حقوقو د تطبیق ساحې څخه موخه ؛ هغه وګړي او خلک دي، چې په وسلوالو شخړو کې تر حمایت لاندې دي، چې دغه ډول خلک د (حمایت لاندې اشخاص) او (حمایت لاندې ډلې) په نوم یادېږي.

د حمایت لاندې اشخاصو پر وړاندې هېڅ ډول عسکري قوت کارول جواز نلري، د نړیوالو تړونونو پر اساس یواځې د هغه اشخاصو پر وړاندې د قوت استعمال جواز لري، چې عسکري قوت استعمالوي، پدې سره د نظامي او غیر نظامي وېش رامنځته کېږي، نو ویلی شو، چې د نړیوال بشردوستانه حقوقو تر حمایت لاندې څلور ډلې خلک شامل دي:

**۱ ـ ټپیان، مریضان او په اوبو کې غرق شوي:**

د ۱۹۷۷ ز لومړني الحاقیه پروتوکول اتمه ماده لومړۍ فقره داسې صراحت لري: زخمیان او مریضان هغه نظامي او مدني اشخاص دي، چې روغتیایي مرستو ته د زخم، مرض او یا بل څه له امله بدني او یا رواني ضعف له کبله اړتیا لري، په (ناروغانو او زخمیانو) کې نوي زېږېدلي ماشومان، زاړه اشخاص، امېدوارې مېرمنې او نور هغه اشخاص شامل دي، چې ځانګړې روغتیایي پاملرنې ته اړتیا لري.

او د همدې پروتوکول اتمې مادې دویمه فقره بیا په اوبو کې غرق شوي داسې تعریف کوي: دا هغه نظامي او غیر نظامي اشخاص دي، چې په بحرونو، اوبو او نورو ځایونو کې د وسلوالو له لوري ټپیان شوي وي، یا یې د لګېدو له کبله کښتۍ د غرقېدو یا الوتکه د پرېوتو له خطر سره مخ وي.

دا خلک تر هغه تر حمایت لاندې دي، چې د دوی حالت ښه کېږي او له خطر څخه بهر کېږي، دوی ته به د هر ډول جنسي، رنګ، مذهبي او نورو توپیرونو څخه پرته لومړنۍ مرستې رسېږي، علاج به یې کېږي او د دوی عزت، ابرو او انساني کرامت به خوندي کېږي، تر څو چې دوی عقلي او جسدي سلامتیا ته ورسېږي.

**۲ ـ د جګړې بندیان:**

په عام ډول د جګړې له بندیانو څخه موخه هغه جګړه مار او د دوی په حکم کې شامل اشخاص دي، چې د دښمن په لاس کې لوېږي.

د جنیف ۱۹۴۹ ز دریم کنوانسیون د جګړې د بندیانو احکام تنظیم کړي، چې په اساس یې د جګړې بندیان قانوني اهلیت لرونکي او د رتبې او عمر په نظر کې نیولو سره د مساوي حقوقو لرونکي دي، دوی ته به روغتیایي خدمات، امن ځای او کورنۍ سره اړیکو اجازه ورکول کېږي او اکراه شکنجه او زور زیاتي څخه به په امن وي.

**۳ ـ مدنیان:**

دا هغه اشخاص دي، چې د جګړې له هېڅ لوري سره په وسلواله مبارزه او اړونده چارو کې برخه نلري، لکه مېرمنې، ماشومان، زاړه، جورنالستان او هغه نارینه، چې په جګړه کې ښکېل نه وي.

د جنیف ۱۹۴۹ ز څلورم کنوانسیون د جګړې پرمهال د مدنیانو د ساتنې او حالاتو د ښه کولو اړوند مباحث لري او همدارنګه د ۱۹۷۷ ز لومړی الحاقیه پروتوکول هم په وسلوالو نښتو کې د مدنیانو د حمایت ملاتړ کوي.

**۴ ـ د بشردوستانه خدماتو مؤظفین:**

بشردوستانه خدمات ټولې هغه کړنې دي، چې تر حمایت لاندې اشخاصو ته د نړیوال بشردوستانه حقوقو د قواعدو په نظر کې نیولو سره مرستې رسوي.

د جنیف ۱۹۴۹ ز کنوانسیونونو او اړونده ۱۹۷۷ ز پرتوکولونو له لوستنې څخه څرګندېږي، چې په مختلفو ځایونو کې یې د بشردوستانه خدماتو وړاندې کوونکي تر حمایت لاندې ګڼلي.

**دریېمه برخه ـ د مکان له پلوه د بشردوستانه حقوقو د تطبیق ساحه:**

د مکان له پلوه د بشردوستانه حقوقو د تطبیق ساحې ځخه موخه هغه سیمې دي، چې هلته د عسکري قوت استعمال ته اجازه نشته، پدې سره د عسکري اهدافو او مدني اهدافو وېش منځته راځي، چې د عسکري اهدافو پر وړاندې د عسکري قوت مجاز او د مدني اهدافو پر وړاندې د عسکري قوت استعمال غیر مجاز دی.

**۱ - عسکري اهداف :**

لدې ځخه موخه هغه اماکن دي، چې په عسکري فعالیتونو کې فعاله ونډه لري، دا ونډه یې د طبیعت، موقعیت، موخې، کارونې او یا نورو لاملونو له کبله وي، چې د دې اماکنو له منځه وړل، نیول او یا له کاره غورځول عسکري هدف ګڼل کېږي.

**۲ - مدني اهداف:**

دا هاغه اماکن دي، چې عسکري موخه نه وي، په عسکري فعالیتونو کې، د طبیعت، موقعیت، موخې او کارونې له حیثه ونډه ونلري.

د ۱۹۷۷ ز الحاقیه پروتوکولونو لاندې سیمې مدني اهداف اعلان کړي:

۱ - هغه سیمې، چې له هغې پرته مدنیان ژوند نشي کولای، لکه زراعتي سیمې، غذایي مواد، صحي مواد، د ځښاک پاکې اوبه او....

۲ - کلتوري، دیني او عبادت ځایونه.

۳ - طبیعي چاپېریال.

۴ - ګڼ میشتې سیمې.

۵ - روغتیایي مرکزونه.

**څلورمه برخه ـ د زمان له پلوه د بشردوستانه حقوقو د تطبیق ساحه:**

د زمان له پلوه هغه وخت د بشردوستانه حقوقو د تطبیق وخت پیل کېږي، چې وسلوال برید ترسره شي، برابره خبره ده که دا برید د جګړې له اعلان سره وي او که غیر اعلان شوې جګړه وي.

او هغه وخت یې تطبیق متوقف کېږي، چې کله نظامي عملیات پای ته ورسېږي، البته د اشغال پر مهال هغه وخت متوقف کېږي، کله چې د عسکري عملیاتو ځخه یو کال تېر شي او نوي نظامي عملیات نه وي رامنځته شوي.

او بیا د بندیانو اړوند بشردوستانه حقوق تر هغې د تطبیق وړ دي، چې بندیان ازاد شي او خپل وطن ته ستانه شي.






وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ
وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً الإسراء - الآية ۷۰

# کرامت انسانی

محمد موسی اواب

**معنی و مفهوم واژه کرامت:**

کرم، کرامة یک واژۀ مفرد و مصـــــدر میباشد که احترام شخص ذات خودش را معنا میدهد یعنی یک شخص احســـــاس به شرف و ارزش های شخص خودرا طور داشته باشد که اگر از آن کاسته شود متأثر و متألم گردد.

الاکرام والتکریم: منافع که به شکل اکرام به انسـان داده شده باشد، یعنی چنان نفع که در آن خدشه نباشـد، یا اینکه به او چیز کریم یعنی شریف داده شود.

این واژه در آیات متعدد قرانکریم ذکر شده است، الله سـبحانه و تعالی ذات خود را به کرم موصـــــوف کرده اســـــت، چنانچه میفرماید: «یا أیهاالانسـان ما غرک بربک الکریم» (الانفطار۷) ترجمه: ای انسـان چه چیز خودت را به رب کریم فریب داده است. و « اقرأ و ربک الأکرم» (الانســـــان۳)

پس کرم صـفت ذاتی الله سـبحانه و تعالی میباشـد، این صـفت مظهر احسان و انعام او تعالی میباشد و هرگز جدا شدنی نیست.

الله متعال از کرم خود انســــــــان را مکرم ساخته است، چنانچه میفرماید: « فأما الانســــــان اذا ما ابتلاه ربه فأکرمه ونعمه فیقول ربی اکرمن» (الفجر۱۵) و اگر انســــــان را کریم بگوئیم به این معنی که الله سـبحانه وتعالی برایش نعمت های زیاد را ارزاني فرموده اســت، که از جمله، افعال و اخلاق حمیده است. پس تا زمانیکه انســــــان این دو نعمت را حفظ کرده باشد کریم پنداشته میشـــــــود. قد، قامت و سـاختمان زیبای داخلي یکی از نعمت های بزرگ دیگر است که الله تعالی برای انسان داده است، چنانچه فرمود: « لقد خلقنا الانسـان فی احســن تقویم» ترجمه: یقینا انســان را در زیبا ترین ساختمان آفریده ایم.



در شرح این آیه علماء، کرامت را چنین تعریف کرده اند:

**۱ـ** کرامت یعنی مبدأ اخلاق، این مبدأ نمایانگر است که انسان در ذات خودش غایه است نه وسیله. و این اعتبارش فوق تمام اعتبار ها است و کرامتش از حیثیت انسانی اش فوق تمام اعتبار ها است.

**۲ـ** کرامت امر خارق العادة است که مقرون به تحدی و دعوای نبوت نباشد، الله تعالی آنرا به دست اولیاء خود آشکار میکند یعنی شخص که صاحب کرامت باشد. ـمعجم اللغة العربية المعاصرةـ

بعضی از علماء گفته اند: کرم مانند حریت است، با این تفاوت که حریت به محاسن خورد و بزرگ گفته میشود و کرم به محاسن بزرگ گفته میشود چنانچه در قرانکریم فرموده است « ان اکرمکم عندالله اتقاکم» (الحجرات۱۳) زیرا که کرم به افعال پسندیده گفته میشود و پسندیده ترین افعال همان است که بخاطر رضای الله باشد، پس کسیکه ذریعه افعال خوب آنرا بجوید تقی است، بناء اکرم ترین مردم متقی ترین آنها است.

**۳ـ** کرامت یک بزرگواری ذاتی است که الله سبحانه وتعالی آنرا بگونه هدیه در ذات انسان گذاشته است. که در شکل ظاهری، نیروی تعقل و تفکر، دارنده گی اراده و اختیار نسبت به پیشرفت خویش، انتخاب خیر از شر نمایان شده است. دارا بودن این خصوصیات انسان را شایسته تکریم ساخته است، کرامت به معنای دوری از پستی و فرومایگی است، و روح بزرگوار و منزه از هر پستی را کریم گویند.

«ولقد کرمنا بنی آدم» (الاسراء۷۰) فضیلت داده ایم انسان را به علم و نطق و اعتدال خلقت، و غیره فضیلت های مانند طهارت بعد از مرگ، حمل و نقل ایشان در بر و بحر ورزق طیب، و فضیلت ایشان بالای بسیاری از مخلوقات دیگر، از این تفضیل جنس مراد است نه تفضیل افراد.

یقینا کرامت داده ایم ذریه آدم را به عقل، و ارسال رسولان، و مسخر ساخته ایم برای ایشان همه آنچه را که در کون است، و برایشان در خشکه چهار پایان را مسخر ساختیم و در بحر کشتی ها را مسخر ساختیم و از خوردني ها و نوشیدني های پاک به ایشان داده ایم و فضیلت داده ایم ایشانرا بالای تمام اشیاء به فضیلت خوب و بهتر.

خلاصه میتوان گفت که کرامت عبارت از تمام بهتری های است که الله سبحانه و تعالی برای انسان عطاء فرموده است، مطلق به وجود آمدن انسان در ذات خود کرامت است که به انسان داده شده است، مسخر شدن اکثر مخلوقات برای انسان از کرامتش است، پس انسان از بند مخلوقات آزاد، محترم، قابل قدر، شریف، برتر، مسلط بر اکثر مخلوقات، و قابل قدر است. (تفسیر میسر)

حدود و مرز کرامت انسان یعنی انسان از چه وقت تا به چه وقت کریم است؟ انسان از آوان جنین بودن کریم است، چون سقط آن حرام است؛ در بطن مادر کریم است، چون ارثش از همان وقت ثابت میشود؛ در طول زنده گی کریم است، چون سر، آبرو و مالش در امن است؛ و حتی اگر به سبب کدام جرم ویا جنگ علیه مسلمانان کشته شود جسدش مثله نمیشود؛ در حین وفات کریم است، چون با جمع شدن جمع غفیر از مردم با در نظرداشت ستر عورتش شستوشو و عطر آلود شده، با دعاء و یاد کردن از اعمال خیر ونیکش دفن میگردد؛ و حتی درقبر و مقبره اش هم کریم است. بی حرمتی و لگد مال کردن قبرش جواز ندارد. اما بعد از بعثت کرامت داده شده به انسان نظر به ایمان و اعمالش بیشتر شده و یا هم از بین میرود........






# د ننګرهار مـــــرستـــون

احمد محسن مل

وړاندي تر دي، چې د ننګرهار مرستون په اړه خپله ليکنه وکړم، ښه به دا وي، چې موږ مرستون وپېژنو. مرستون د پښتو ژبې خپله کلمه ده، چې د مرستې د ځای معنی لري.

مرستون د افغاني سرې مياشتې په تاريخ کې اوږده مخينه لري، له کله نه چې د افغاني سرې مياشتې ټولنه رامنځته شوې؛ نو مرستون ددې ټولنې په چوکاټ کې ځانګړې او مهم ځای لري.

د افغاني سرې مياشتې د ختيځ زون يا ننګرهار مرستون د رامنځته کېدو دقيقه نېټه څرګنده نه ده، اما د پښتو ژبې د يو شاعر او ليکوال سيد محمد طاهر بينا د يو شعر له مخې، چې د ننګرهار مرستون د افتتاح په ورځ يې ويلی و، کولی شو ۱۳۴۳ لمريز کال ياد کړو.

د ننګرهار مرستون هم د افغاني سرې مياشتې د نورو مرستونونو په څېر بې سرپرسته کورنيو ته خپل خدمات وړاندې کوي، په ځانګړې ډول هغه کورنۍ چې کونډې او يتيمان ولري.

دا به ستونزمنه وي، چې په دقيق ډول ووايم، چې ننګرهار مرستون له پيل څخه تر دې وخت پورې څومره خدمات وړاندې کړي، مګر ويلی شم، چې د ننګرهار مرستون له لارې تر دمه د ټولنې په زرګونو ګروته بشري خدمات ترسره شوي دي.

د افغاني سرې مياشتې ننګرهار مرستون دا مهال دوه ډوله مشمولين لري:

۱ـ د ننني مشمولين

۲ـ باندېني مشمولين

د ننګرهار مرستون اوس مهال د داخلي مشمولينو ۳۳ کورنۍ لري، چې د کورنيو د غړيو شمېر يې ۲۰۰ کسانو ته رسېږي. په همدې ډول ۳۲۰ کورنۍ باندېني مشمولين لري، چې د کورنيو د غړيو شمېر يې ۲۰۰۴ کسانو ته رسېږي، چې هره مياشت له افغاني سرې مياشتې معلومه اندازه پيسې په خپلو کورونو اخلي.

د ننګرهار په مرستون کې داخلي ۳۳ کورنۍ مېشتې دي، داخلي مشمولينو ته په لاندې برخو خدمات وړاندې کېږي:

۱ ـ لنډمهاله سرپناه.

۲ـ روغتيا.

۳ـ حرفوي زده کړې او ټرېننګونه.

۴ـ اعاشه او اباته.

۵ ـ د ماشومانو د زده کړو آسانتياوې.

۶ ـ د تفريح ځای.

اړينه ده، چې پورته ياد شوي فعاليتونه په تفصيل سره وليکو.

هر هغه کورنۍ، چې د افغاني سرې مياشتې په مرستون کې د داخلي مشمولينو په اصولو برابره وي؛ په مرستون کې مېشت او ځای ورکول کېږي او افغاني سره مياشت تر درې کلنو پورې د هغوی هر ډول اړتياوې پوره کوي او د ژوند ټولې آسانتياوې ورته برابروي. په همدې ډول د ننګرهار مرستون هم داسې جوړ شوی، چې په کې د ژوند ټولې لومړنۍ اړتياوې او آسانتياوې شتون لري او په دې مرستون کې مېشتې ۳۳ کورنۍ له دې څخه ګټه اخلي.

د ننګرهار په مرستون کې روغتياپالان شتون لري، چې د اړتيا پر وخت د مرستون داخلي مشمولينو ته روغتيايي خدمات وړاندې کوي.

د افغاني سرې مياشتې په ننګرهار مرستون کې بې سرپرسته کورنۍ په دې هدف نه مېشت کېږي، چې تر درې کلنو پوره کېدو وروسته دې بې سرپرسته کورنۍ بېرته له مرستون څخه ووېستل شي او د دوی ژوند دې د تېر په څېر يو ځل بيا تکرار شي. بلکه دوی ته د درې کلونو په دوران کې حرفوي زده کړې ورکول کېږي، تر څو ځانته يو کاروبار غوره او په راتلونکې کې په ځان بسيا واوسي او خپلې کورنۍ ته نفقه پخپله په عزتمنه توګه پيدا کړي. همدا رنګه يې بچيانو ته تعليم او روزنه هم کېږي.



# د شکرې ناروغي

ډاکټر فریداحمد لامع

**د شکرې ناروغي څه شی ده او څنګه ترې ځان ساتلای شو؟**

د شکرې، شوګر یا ډیابیټ ناروغي په ګرده نړۍ کې په زیاتېدو ده او زموږ په هېواد کې ډېره شوې ده!

د روغتیا د نړیوالې ټولنې د شمېرو له مخې د شکرې په ناروغۍ د اخته کسانو شمېره له ۱۹۸۰ز څخه تر ۲۰۱۴ز پورې له ۱۰۸ ملیونو، ۴۲۲ ملیونو ته لوړه شوه . په درسته نړۍ کې اته نیم سلنه خلک د شکرې ناروغان دي.

په برتانیا کې له ۴۵ـ ۵۴ کلنو خلکو کې هر لسم کس د شکرې ناروغ دی او له ۷۵ کلن پورته بیا نږدې هر څلورم کس دا ناروغي لري.

دا بیماري د پرمختللیو ملکونو پرتله په وروسته پاتې هېوادو کې په چټکۍ زیاتېږي.

د شکرې ناروغي د ړندېدو، د زړه حملې، د بډوډو یا ګوردو له کاره لوېدو، فلج یا ګوزڼ (ستروک)، د پښو د پرې کېدو او په نارینه وو کې د جنسي کمزورۍ یا (امپوټنس) یو ستر لامل کېدای شي.

**ولې د شکرې په ناروغۍ اخته کېږو؟**

د بني ادم په خېټه کې د معدې شا ته پنکریاس پروت دی، چې د نورو انزایمونو او هارمونو تر څنګ انسولین هم جوړوي.

د انسان د خوړو ډېرې برخه له هضم وروسته په کولمو کې په شوګر بدلېږي، چې لویه برخه یې د ګلوکوز په بڼه وینې ته جذب کېږي او د بدن ژونکي یا حجرې یې د انسولین په ذریعه د انرجۍ لپاره د سون توکي په توګه کاروي.

که چېرې دغه مهم هارمون یعنې انسولین نه جوړېږي او یا کار نه کوي، نو بدن ګلوکوز د انرژۍ لپاره نه شي کارولی او په وینه کې یې کچه لوړېږي، چې دې حالت ته د شکرې یا شوګر رنځ وایي.

په عام ډول د شکرې ناروغي دوه ډوله ده، چې لومړی ډول شکره او دویم ډول شکره یې بولي.

په شکره اخته کسانو کې اټکل لس سلنه خلک په لومړي ډول شکرې او نوي سلنه بیا په دویم ډول شکرې اخته دي.

دا ناروغي د پرمختللیو ملکونو پرتله په وروسته پاتې هېوادو کې په چټکۍ زیاتېږي.

ځینې میندې د امېدوارۍ په موده کې د شکرې لوړېدو سره مخامخ کېږي، چې دې ته **د مېندوارۍ شکره یا (ګېسټېشنل ډیابیټیز)** وایي، چې له زېږون وروسته بېرته نارمل حالت ته راستنېږي، خو په دوی کې د عامو خلکو پرتله پر دویم ډول شکرې د اخته کېدو خطر یو څه زیات وي.

**لومړی ډول شکره:**

د شکرې دغه ډول په ماشومانو او ژنیو کې پیدا کېږي. دا یوه آټوامیون ناروغي ده، چې د انسان بدن د پنکریاس د هغو ژونکیو یا حجرو پر ضد، چې انسولین تولیدوي انتي، باډیز جوړوي او هغه له کاره غورځوي، نو په دې ډول په بدن کې انسولین بیخي جوړېږي نه او د شکرې د کنټرول لپاره لازمه ده، چې په پوستکي کې د پیچکارۍ یا پمپ په ذریعه انسولین واخیستل شي.

د دې ناروغۍ نښې په ورځو او اوونیو کې ځان جوتوي. که په وخت یې درملنه و نه شي، په وینه کې زیاته شکره له متیازو سره وځي، چې بدن د اوبو له سخت کمښت سره مخامخېږي، وینه تېزابي کېږي، چې 'ډایابیټېک کیټواسیډوسز' یې بولي، انسان کوما ته ځي او د مرگ زیات خطر لري.

**دویم ډول شکره:**

د شکرې دغه عامه ناروغي عموماً په لویانو کې پېښېږي، خو په تنکیو ځوانانو کې یې هم پېښې ثبت شوې دي. دا هم د انسولین د کمښت یا د هغه په مقابل کې د بدن د مقاومت یا دواړو له امله رامنځته کېږي، نو د درملنې لپاره یې هم داسې دارو درمل او گولۍ ورکول کېږي، چې د انسولین جوړېدل زیات او په مقابل کې یې د بدن مقاومت او حساسیت کم کړي.

د شکرې ناروغانو ته د پیچکارۍ له لارې انسولین ورکول کېږي، ډېری خلک به کلونه په دویم ډول شکرې اخته وي او د بدن په غړیو کې به یې ستونزې رامنځته کړې وي، خو تشخیص به یې نه وي شوی، ځکه پنکریاس لا هم څه نا څه انسولین جوړولی شي.

همدا لامل دی، چې که څوک د شکرې مرض نښې ولري لازمي ده، چې له ډاکټر سره مشوره وکړي، چې ناروغي یې په وخت تشخیص شي او د بدن پر بېلا بېلو غړیو یې د ناوړه اغېزو مخه ونیول شي.

**د شکرې ناروغۍ نښې نښانې:**

- تنده یا زر زر تږی کېدل.
- د تشو بولو زیاتېدل.
- د ستومانۍ او ستړیا احساس.
- د وزن کمېدل.
- په سپوخس او غولنگونو کې خارښت او په فنگس اخته کېدل.
- د زخمونو زر نه رغېدل.
- په سترگو خړه یا د نظر کمېدل.

**د شکرې ناروغي څنگه تشخیص کېدلای شي:**

په نارمل حالت کې په تشو بولو کې شکره نه راوځي، خو که په وینه کې یې کچه لوړه شي، نو د متیازو یو ساده ټسټ یا معاینه یې په بولو کې د راوتو پته لگولای شي او په نهره یا هم له خوراک وروسته د وینې معاینه یې تشخیص کره کولای شي.

په وینه کې د (اېچ بي اې ون سي) په نامه یوه توکي کچه یې هم د تشخیص لپاره غوره کړای شوې ده.

ماهرین د شکرې ناروغانو ته په خوړو کې د لازم احتیاط مشوره ورکوي. د شکرې ناروغۍ په مهار کېدو کې مناسب خوراک ډېر رول لري. د وزن کموالی، فزیکي فعالیت او ورزش یې په درملنه کې زیات مهم دي او اوږد مهاله خطرونه یې کموي.

د وینې فشار او کولیسټرول کنټرول یې پر بدن د بدو اغېزو په کمولو کې مرسته کوي. په دویم ډول شکرې اخته ځینې کسان یوازې په دغو لارو چارو سره خپل شکر قابو کولای شي، خو ځینې نور بیا گولیو او یا انسولین ته اړتیا پیدا کوي.

د شکرې ناروغانو ته ښایي، چې د خپل ډاکټر سره په اړیکه کې وي او د خپل زړه، سترگو، بډوډو او پښو خاص خیال وساتي.





# مصئونیت

معراج الدین ظهیر

مباحث مصـــئونیت در سازمان های سیاسی و غیر سیاسی و نیز نظام های حکومتـــی و پارلمانـــی بعنوان مبحث گـــرم و داغ درزمان های مختلف و در گفتار ها و تحلیل ها و تحقیق های ســـیاســـیون، دانشـــمندان، محققین جایگاه اخص خود را داشته و دارد و همواره در عدم مصـــئونیت ابتکار و عمل تطبیق نخواهد شد و در عدم حضـــور جلوه های مصـــئونیت نیز اندیشـــه های متبلور نخواهد بود و تدابیر فکری و ذهنی انجام نخواهد شـــــد. آنهای که بمنظور انجام کاری میخواهند حـــرکات ذهنـــی و فکـــری و اعتقادی و اجتماعـــی را انجام دهند نیاز به مصئونیت فکری، اعتقادی و اجتماعی دارند. مصـئونیت در روند نظام ها، اعتقادات، طرز تفکـــر و تعقل افـــراد و جامعه تفاوت اساسی دارد که بنوبۀ خود اصول و قواعدرا با نحوۀ برخورد و قضـــاوت های مبرم طرح ریزی مینماید.

در محور مصئونیت دو چرخش متداوم فکری که یکی سیاسیون است و دیگری غیروابســـــته گان سیاست که بدان سازمان خبیر مینامند، میچرخد. بحث ما فقط در محور تداوم سازمان خیریه اســت که حفظ مال و جان مدیران و هویت و شخصیت و تدابیر و استراتیژی آن الزامی پنداشته میشـــــود. سازمان های خیریه ملی و بین المللی بمنظور دستگیری از قربانیان منازعات مســـلحانه و حوادث طبیعی در سطح دنیا نیاز مبرم به مصئونیت دارند چون انجام وظایف و مسئولیت ها نیز مبتنی است به مصـئونیت. یکی از این سازمان های خیریه ملی که در سطح ملی و بین المللی نیاز به مصـــئونیت دارد، هلال احمرافغانی است که در طول تاریخ ایجاد تا اکنون توانســـته است به آسیب دیده گان حوادث طبیعی و غیر طبیعی درســـطح ملی و بین المللی کمک رســـانی نماید از آنجائی که اصـــول حاکم براین ســـازمان پایه های زیربنای اهداف بشـــردوستانه را تأمین مینماید نشـــان داده است که رعایت آن درحفظ جان و مال وابســـته به این سازمان در اولویت قرار دارد.

اصـول و اســاســات ســازمان، تطبیق فعالیت های خیریه را در محور بافت های اجتماعی بدور از مســـــائل سیاسی مؤکد است و اجازه نمیدهد تا روند سیاسی، طبقاتی، قومی و تعصبات و تبعیض عوامل و اسباب عدم مصـئونیت جان و مال سازمان گردد. چون چنین سازمان هـــای خیـــریه در سطح جهان بشریت بمنظور مداوای درد های که از سوی جهان سیاست به ملت ها و افراد غیر وابســـته که بدان جامعه و جهان سوم گفته میشـــود برخواسته است. شکی نیســـت که افراد وابسته بســازمان های خیریه در امواج متلاطم ذهنی خویش که همانا آرزوی کمک رسانی به قربانیان حوادث است مغروق اند و نســـبت به افراد که در خاندان و گلیم سیاست تکیه‌زده اند، مهربان اند و محبت دارند.

از سوی دیگر منابع بشری ســازمــان نیــز برخــواســتــه از میان طبــقــات اجتماعی با فرهنگ های وابســته به اقوام میباشند که خود سبب مصئونیت سازمان تلقی میشود. سازمان های سیاسی منافع سیاسی دارند و سازمان های خیریه ملی اهداف تقلیل آلام بشری.

افراد وابسته به سازمان های سیاسی نیز منافع سیاسی سازمانی دارند و افراد ســازمان های خیریه اهداف کمک رسـانی به آحاد اجتماعی بمنظور مداوای روان قربانیان اجتماع، این دو صــنف و دو گروه متشکل از اجتماع بشری اند و وقوع حادثات بشری را نیــز ناظر و عامل اند از آن سبب حوادث غیر طبیعی برخواسته از روند گرایش آحاد وابســـته به جریان های سیاسی است که در اصول نظام آنرا حوادث غیـر طبیعـی تعـریف میکنند. این دوجـریان، دو جهان بینــی، دو تلقین اذهان از هم متفاوت اند در عملکـرد های اجتماعـی که بدان حاکم و محکوم میگویند و هـر دو نیـز نیازی به مصـــــــــئونیت دارند در جهت رسیدن به هدف. یکی نیازی به مصــئونیت سیاسی دارد که وابســـته است به نظام های حاکم و دیگری نیازی به مصــئونیت دارد که وابســته است به عملکرد ها طبق اصول سازمان خیریه. اینجا مصـئونیت در حقیقت لایهٔ قدرت است که سیاسیون با سلاح گرم در محافظت قرار میگیرند و صلح دوســـــتان و خیبرین به لایهٔ عملکرد محبت و مهربانی و تأمین عدالت و رعایت اصول سازمان.

به هرحال حفظ مال و جان امر الزامی اســـت. آنچه قابل درک و تعمق اســت احترام به فرهنگ ها اســت که این فرهنگ ها چه وابســـــته به سازمان های سیاسی باشد و یا سازمان های غیر سیاسی و خیریه چون آحاد وابســـــته به این ساز مان ها در گرو فرهنگ های حاکم ســـازمانی اند. در صــورت انحراف مدیران سازمان های خیریه از اصول فرهنگ حاکم بر سازمان، مصـئونیت خود را متلاشـی خواهند دید. چون عدم و یا ضعف رعایت اصـول تخطی پنداشـته شـده ضربات مهلک را بر پیکر اهداف سـازمان بدنبال خواهد داشت.

از اینرو محافظت و مصـئونیت زنجیره های وابستهٔ اجتماعی است که مرتبط میشــود به نحوهٔ عملکرد های آحاد سازمان در تطبیق عادلانه استراتیژی، توسعه خدمات بشر دوستانه، رعــایت فرهنگ های طبقاتی، ترویج ارزش های متعالی انســانیت، تحکیم زیر بناهای طرزالعمل ها و قوانین حاکم بر اصــالت ســازمان، دعوت صفوف مختلف اجتماعی بمنظور تحکیم نظام سازمان.

پس میتوان گفت که انحراف مدیران ارشد سازمان عدم مصئونیت سازمان است. و نیز اهداف توسعه طلبی را منهدم خواهد ساخت که نتایج انهدام اهداف همانا تنزیل پذیرش خواهد بود و مدیران سازمان در تنزیل پذیرش با رکود و سـقوط و انهدام اهداف رو برو خواهند شــد که نتایج برعکس خواســـته ها مبتنی از انحراف به پیش میرود.

از سوی دیگر نظام اقتصـــادی حاکم سازمان های خیریه مبتنی است بر توافق پذیرش طبقات اجتماعی که در آنصورت نیز تنزیل زیربنای اقتصادی سازمان حتمی پنداشته میشـود. بنابرین ارائهٔ شفافیت اقتصـــادی، تطبیق عادلانه در توسعه خدماتی، پذیرش افــراد وابسته به اهداف خدمات بشردوستانه، تسریع روند امور تحکیم زیر بنای اقتصادی، تبلیغ و ترویج اصول حاکم برسازمان، در گرو رعایت اصـــول آن اســـت که این مدعی بر افراد و مدیران سازمان هلال احمرافغانی منطبق میباشد چون ایشــان در هرجا برای همه بعنوان اصـــولگرای هدفمند معرفی شــــده اند. ولی هیچگاه توســــعه و تحکیم و پذیرش در میان طبقات اجتماعی بخصـــــوص قربانیان حوادث در عدم رعایت اصول متضـــــمن مصـئونیت را ندارند. اصول هلال احمر افغانی مسیر گسـترش توسعه اهداف را معین نموده نیاز ها را همواره طبق خواست های متضررین که بدان خط اولویت خوانند تشخیص میدهد. مدیران و رهبران خیریهٔ ســازمان ملی خیبر نیز خود نمونه خیر، صــلح، دلجوئی، مهربانی، شفقت و محبت باشند برملت رنجور نشسته در محیط حوادث ورنه طریق و مسیر سازمان در گرو استهلاک زمانی قرار خواهد گرفت و منفور اذهان عامه و فرهنگ های اجتماعـی خواهند شد و آنگاه که زمان از روند مهلک ذهنی مدیران سـازمان سخن ها گوید، هلاکت تاریخ درسازمان فرا خواهد رسـید. چون امور و روند تطابق اذهان مدیران بر ســـازمان درطول تاریخ برملا خواهد شد و سـبب نفرین و طعن و لعن خواهد بود از اینرو هویدا است که مصئونیت مال یک زمان، یک دوره، یک نسل نیست بلکه میتوان مصـــئونیت تاریخی وزمانی را مورد بحث و گفتگو قرار داد چون تخطی ها و انحرافات که افراد سازمان را منفور میسازد همانا اذهان لش شدهٔ افراد سازمان است.

اصالت و رعایت اصول سازمان همانا در اصالت و رعایت ذهنی افراد سازمان است هرگاه وجود اذهان مدهش و مدهوش و مهلک برسازمان حاکم شود، انهدام اصول پیش خواهد آمد و مصئونیت رخت ابدی خواهد بست. بنابرین امور بشری دربستر و محیط اذهان بیمار مدیران سازمان ارتباطات سازمان را در سطح ملی و بین المللی خدشه دار خواهد کرد. چون تبعیض و تعصب طبقاتی در اذهان حاکم برسازمان تیر مهلک زمانی است که برپیکر تاریخ سازمان میزند. بنابرین امور بشری مبتنی است برمسایل معیارهای اهداف سازمانی که خدمات آن درحالات نیاز مورد پذیرش آسیب دیده گان قرار گیرد و از سوی دیگر آنهائی که خدمات را تعریف و بیان میدارند خطرات را نیز در رعایت اصول برمبنای اصالت فردی در نظر بگیرند.

اصالت فردی سازمان همانا اصول پذیرش افراد سازمان است که در اصول مصئونیت سازمان های خیریه اصل دوم را محتوا کرده است و متضمن مال و جان سازمان درعرصه های مختلف زمانی است. اما هیچ سازمانی ملی و بین المللی خیریه متضمن برداشت حالات قربانیان نیست بلکه درحد تقلیل آلام قربانیان سخن گفته اند و ارائهٔ کمک های اولیه غذائی و صحی را متضمن اند تنها آنچه افراد و سازمان را مصئونیت می بخشد در این تقلیل رعایت عدالت و ترویج محبت و آرام بخشیدن بر روان مغضوبین حوادث است. اینکه چه معیار ها و نیاز ها را به چه پیمانه و چگونه سنجیده اند تا آلام را کاهش بخشد متکی است برفهم و درایت ذهنی و جهان بینی وسیع مدیران ارشد سازمان.

مدیران ارشد سازمان درصورت که منافع سازمان سیاسی که بدان وابسته اند اولویت دهد، یا منافع شخصی خویش را ترجیح بخشند، یا تسلط قوم گرائی و طبقاتی را درزمینه های دسترسی بمنافع طبقاتی در ساحات استراتیژی اولویت دهند، اینجا نه کاهش و تقلیل آلام قربانیان خواهد بود و نه اصول و نه مصئونیتی. چون در زمان های مختلف اذهان متفاوت را ترویج بخشیده اند و انحراف و انحطاط اصلتگرائی را توسعه داده اند که سبب طعن و حقارت براصالت سازمان گردیده است.

ولی، آنچه بسیار مهم و ارزشمند درهلال احمر افغانی پنداشته میشود تشریک مساعی مردم در امور تقلیل بخشیدن قربانیان حوادث است که چه از طریق مالی باشد و یا کمک های روانی و فزیکی، در صورت انحراف اصول و عدم رعایت قوانین حاکم برسازمان چنین تشریک مساعی رنگ و بوی انحرافی را بخود بگونهٔ چند برابر گرفته شعار حاکم برهلال احمرافغانی را که همانا هلال احمر از مردم و در خدمت مردم قرار دارد، بیرنگ خواهد ساخت. این شعار نماد تاریخی این سازمان است که اشتراک وسیع مردم را درطول تاریخ این سازمان برملا میسازد.

از سوی دیگر نیز امر خیر رسانی در فرهنگ اسلامی مقدم شمرده میشود که بدان کسب رضایت الله را اصول میدانند و آنرا سبب دریافت اجر و پاداش اخروی میخوانند. چنین اعتقاد ذهنی اجتماعی است که سازمان های خیریه را در میان طبقات اجتماعی مصئون نگه میدارد. دراخیر این بحث لازم میدانم تا بحث مصئونیت را با تشریح و تعریف و بیان هشت اصل مصئونیت که در تطابق با هفت اصل سازمان هلال احمر افغانی قرار دارد روی دست گرفته معنا و مفهوم مصئونیت را بیشتر مورد بحث درشماره های بعدی قرار دهم.........





# زلزلې

محمد یوسف

## زلزلې ولې واقع کېږي؟

ډېری وخت مصیبتونه او پېښې الهی عذاب نه بلکه یوه ازموینه وي، الله تعالی په خپل کلام کې فرمایي: « ولنبلونكم بشئ من الخوف والجوع و نقص من الأموال والأنفس والثمرات، و بشر الصابرين، الذين إذا أصابتهم مصيبة قالوا إنا لله و إنا إليه راجعون».

ژباړه: او خامخا تاسې په یو څه وېرې، لوږې او د مالونو، نفسونو او مېوو په کمښت امتحانوم، نو زېری ورکړه هغه صبر کوونکو ته، چې کله ورته مصیبت ورسېږي وایي، چې مونږ د الله تعالی یو او الله ته ورتلونکي یو. په همدې خلکو د الله تعالی رحمتونه او برکتونه دي او همدوي کامیابه دي.

همدارنگه ازموینې په انسانانو د ایمان له درجې سره سمې راځي، لکه پیغمبر ص فرمایي : «أشد الناس إبتلاء الأنبياء، ثم الأمثل فالأمثل» په خلکو کې سخت ازمېښت والا پیغمبران دي او بیا ورپسې هغه خلک، چې پیغمبرانو ته په کړو وړو کې نېږدې انسانان وي او بیا ورپسې درجو والا انسانان، نو په پیغمبرانو او د هغوی په ملگرو او تابعدارانو هم رنگارنگ طبیعي او غیر طبیعي ستونزې او کړاوونه راغلي او هغوی له دې ازمېښتونو په کامیابۍ او صبر سره سرلوړي راوتلي دي.

د مصیبت په وخت کې د شریعت حکم دی، چې باید له صبر څخه کار واخلو او له بېځایه شکایتونو، مخ او وېښتو شکولو او جامو څیرې کولو او له داسې خبرو، چې د الله تعالی په تقدیر او کړنو اعتراض وي، ځان وساتو.

پیغمبر ص په یوه حدیث شریف کې فرمایي، چې د مؤمن شان عجیبه غوندې دی، که چېرته مصیبت او ستونزه ورته ورسېږي او صبر پرې وکړي، نو دا ورته خیر دی او که چېرته ورته فایده او گټه ورسېږي او شکر پرې اوباسي نو دا هم ورته خیر دی. الله تعالی په قرآن کې د صبر کوونکو لپاره د لوی اجر وعده کړې ده « إنما يوفى الصابرون أجرهم بغير حساب» یقینا صبر کوونکو ته له حساب وتلي اجرونه ورکولی شي.

ومو ویل، چې زلزلې ډېری وخت امتحان او ازمېښت وي، خو کله ناکله الهي عذاب هم وي. په عمومي توگه د عذابونو یو لامل وي، چې الله تعالی په قرآن مجید کې یاد کړی: «و ما أصابكم من مصيبة فبما كسبت أيديكم و يعفو عن كثير»

ژباړه: تاسې ته چې کوم مصیبت در پېښېږي، نو دا ټول ستاسې له کسب او گناهونو څخه دی او الله تعالی له ډېرو شیانو درتېرېږي .

پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم په یو حدیث شریف کې ویلي، چې کله خباثتونه او گناهونه ډېرشي، نو بیا به خلک تباه کېږي.

## زلزله څه شی ده او څنګه پېښېږي؟

پوهانو په وروستو دوه پېړیو کې د زلزلې د رامنځ ته کېدو په اړه ډېر معلومات ترلاسه کړي، خو تر اوسه واحدې نظریې ته ندي رسېدلي. د دغو نظریو په رڼا کې ویلی شو، چې زلزلې په ځمکه کې د داخلي محرکه قواو په شتون کې د لویو چاودنو له امله رامنځ ته کېږي. یا دا، چې زلزله د ځمکې هغه ټکانونه دي، چې په ځمکه کې دننه د زېرمه شوې انرژۍ د ناڅاپه پرېښودو له امله منځ ته راځي، دا زېرمه شوې انرژي هر لوري ته د شعاع په شکل خپرېږي او د زلزلې څپې منځ ته راوړي .

زلزله یوه داسې طبیعي پیښه ده، چې خپله څوک نه وژني، د زلزلې له امله مرګ ژوبله د هغو ودانیو د چپه او زیانمنېدو له امله منځ ته راځي، چې خپله انسان جوړ کړي. د زلزلې مخنیوی نشي کېدای، خو یو شمېر لارې چارې کولی شي د زلزلې د زیانونو کچه را کمه کړي، چې ځینې یې دلته یادې شوې.

### د زلزلې پړاوونه:

هغه کسان، چې د زلزلې ترخه تجربه لري وایي: د زلزلې پېښېدلو په لومړیو کې له عجیبو غړونوسره مخ کېږي، چې تر ډېره په لومړنیو سپکو لړزو یا ټکانونو بدلېږي، ورپسې د زلزلې اصلي څپه ده، چې له څو ثانیو تر څو دقیقو اوږدېږي او وروستی پړاو هم د زلزلې وروستي ټکانونه دي، چې له اصلي څپې سپک دي، چې دا ټول په ډېر لنډ مهال کې پېښېدلی شي.

نو زلزله د ځمکې د لړزې یو الهي افت دی، چې څو ثانیې دوام کوي او ډېری وخت انسانانو ته د مرګ ژوبلې اړولو تر څنګ کورونه او ودانۍ ړنګوي. کله چې هم د زلزلې له امله په یوه ټولنه کې مرګ ژوبله او مالي زیان رامنځ ته شي، نو د خیر پالو ټولنو او وګړو وجیبه وي، چې د زیانمنو وګړو لاسنیوی وکړي او د زلزلې له زیانونو یې وژغوري.

هر کال په نړۍ کې سلګونه زلزلې پېښېږي، چې په منځنۍ توګه په هره دقیقه کې یوه یا دوه زلزلې د ځمکې خاورینه کُره لړزوي. زلزلې یوازې په وچه کې نه، بلکې په سمندرونو کې هم رامنځته کېږي.

### د زلزلې مرکز او څپې :

هره زلزله یو مرکز لري، چې له دې مرکزه د زلزلې څپې او موجونه هر لوري ته خپرېږي. لکه څنګه چې مونږ د اوبو ډنډ ته یوه تیږه وغورځوو، نو څومره چې څپې د تیږې له ځایه لرې کېږي، په همغه کچه یې شدت اوسرعت کمېږي. د زلزلې څپې او موجونه همدا ډول دي؛ څومره چې د زلزلې څپه له مرکزه لرې کېږي په همغه کچه یې شدت او زیانونه کمېږي. د زلزلې مرکز د ځمکې په ژوروالي کې له ۱ څخه تر ۸۰۰ کېلو مترو پورې وي. که چېرې د زلزلې مرکز له خلکو د ډکې سیمې لاندې وي، نو پراخ ځاني او مالي زیانونه به رامنځ ته کړي. دغه ډول زلزلو د هېواد په بدخشان، تخار، کابل او غزني په ولایتونو کې په تېر کې زیات زیانونه اړولي. د زلزلې د څپو چټکتیا په ځمکه کې په میده خاورو کې په یوه ثانیه کې ۲.۵ کیلو متره او په شګو او جغل کې ۱.۵ کیلو مترو ته رسېږي.

### د زلزلې وړاندوینه:

که څه هم تراوسه څېړنو نده جوته کړې، چې له زلزلې وړاندې په یقیني توګه کوم څه پېښېږي، چې مونږ یې د زلزلې د راتګ وړاندوینه وبولو؛ خو ځینو تجربو ښودلې، چې له زلزلې وړاندې ځاروي، خزنده او مرغان ځانګړي غبرګونونه ښيي، نارامه حرکتونه ترسره کوي او د تېښتې هڅه کوي. تراوسه انسان په دې نه دی توانېدلی، چې وپوهېږي د کومې وړاندوینې پر مټ کله او چېرته زلزله رامنځ ته کېږي ........

نور په راتلونکې ګڼه کې





# اوبه، پاکوالی او روغتیا ساتنه

شاهدالله بانډه وال

اوبه، پاکوالی او روغتیاساتنه، چې په عامه توګه ډېری خلک ورته د (WASH) کلمه کاروي، چې دغه څلور توري د انګلیسي له لاندې کلمو څخه اخیستل شوي دي.

(WASH): W—Water, S—Sanitation, A—And, H—Hygiene

دغه کلمې یو بل سره ډېرې نیږدې اړیکې لري، چې پاکو اوبو ته لاسرسي، روغتیا او ښې روغتیاساتنې سره مرسته کوي، دا چې د واش کلمه له څلورو کلمو څخه تشکیل شوې ده، نو دلته موږ په ترتیب سره په جلا جلا توګه د هرې یوې یادونه کوو.

د واش یا د اوبو د روغتیاساتنې موضوع هغه وخت ډېره تر بحث لاندې ونیول شوه، چې د نړۍ د ډېری هېوادونو وګړو پاکو او صحي اوبو ته لاسرسی نه درلود. اوس هم دا موضوع ډېره جدي ده، د خوړو نړیوال سازمان په تازه خپرې شوې خبرنه کې ویل شوي، چې هره ورځ ټولټال ۳.۵۷۵ میلونه وګړي د اوبو اړوند مشکلاتو اوستونزو له امله مړه کېږي.

زموږ په هېواد کې د واش په اړه لومړۍ پالیسي په ۲۰۱۰ز کال کې جوړه شوه، چې د تطبیق لپاره یې همکارو مؤسسو هم ډېره مرسته کړې ده او لا هم کار ورباندې روان دی؛ تر څو خلک وکولای شي په خپل چاپېریال کې د خوراک، څښاک او همداشان د ژوند د نورو اړتیاو لپاره له پاکو اوبو څخه ګټه واخلي. هغه تګلاره، چې په ۲۰۰۴ز کال کې جوړه شوې وه، د یوه تن لپاره د اوبو نورم په یوه شپه او ورځ کې ۲۵ لیتره ټاکل شوی و.

**اوبه :**

اوبه یوه بې بویه او بې رنګه ماده ده، چې د ځمکې په هره برخه کې پیدا کېږي. په یوه ټولنه کې خلک د بېلابېلو موخو لپاره اوبه کاروي لکه: د څښلو، د فاضله موادو د پاکولو، کرنې او زراعت، مالدارۍ، پاکوالي او داسې نورو ....لپاره.

دا چې د انسان بدن ٦۰ سلنه له اوبو څخه جوړ شوی، نو د انسانانو بدن پاکو اوبو ته اړتیا لري، هم د څښلو لپاره او هم په ورځني ژوند کې د استفادې لپاره. دلته د اوبو د هغو زېرمو په هکله یوه لنډه یادونه کوم چې اوبه ترې په لاس راځي. هغه اوبه، چې د څښلو، وینځلو او د خوړو پخولو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کېږي، د باران اوبه، د ځمکې د مخ اوبه (د بندونو او سیندونو اوبه)، د ځمکې لاندې اوبه (د څاګانو او چینو اوبه) دي. د تازه اوبو اندازه محدوده ده او په پرلپسې توګه په طبیعت کې په دوران کې وي.

**د اوبو کیفیت څه شی دی؟**

د اوبو د کیفیت اصطلاح د مایکرو بیالوژیکي، فزیکي او کېمیاوي خواصو لپاره پکار وړل کېږي؛ تر څو د هغې ورېتیا د ګټې اخیستلو لپاره معلومه شي. د دې ځانګړتیاو ډېری برخه د هغو موادو تر کنټرول او نفوذ لاندې راځي، چې په اوبو کې حل شوي او یا د اوبو په مخ څرګندېږي .اوبه په خالصه توګه په طبیعت کې لږ پیداکېږي او په معمولي توګه د بېلابېلو مواد یو څه اندازه پکې وي، له اوبو څخه ګټه اخیستونکو د خپلې پوهې سره سم د ښو او خرابو اوبو په هکله تعبیرونه کړي دي.

هر کله چې اوبه پاکې ښکاره شي، بد خوند او بوی ونه لري، خلک یې ښې اوبــــه او کــــه پــــاکې معلومې نشي یا خراب بوی او خوند ولري، خرابې اوبه یې بولي. خو کومې رڼې اوبه، چې هیڅ بوی ونه لري خو د حل شویو مضره موادو او د نــاروغۍ پیدا کوونکو موجوداتو لرونکې او د صحت لپاره زیانمنې وي، تــل د ښځو لپــاره بــې خطــره نـــشي ګڼل کېدای.

دا ددې حقیقت ښکارندوی دی، چې د ښو سرچینو اوبه هم رد کېدلی شي، په داسې حال کــې چــې ځینـــې د خـــرابو سرچینو اوبه د منلو وړ ګرځېدلای شي.

**د اوبو ککړتیا یا چټلېدل څه شی دی؟**

کله چې اوبه د طبیعي او غیر طبیعي فعالیت په پایله کې خپل کیفیت او د ښځو لیاقت له لاسه ورکړي ککړې بلل کېږي.

چټل مواد د انسانانو د فعالیت او د طبیعي حوادثو له امله خپل ځان د اوبو منابعو ته رســـوي. یعنې اوبه چې د چټلو موادو لرونکې وي کار ترې اخیســتل انســانان له روغتیایي ستونزو او حتی له مړینې سره مخ کوي. انســـاني کړنې، چې د اوبو په کیفیت باندې اغېزه کوي عبارت دي له:

د ځمکو ډېر خړوبول.

د معدنونو کشفول.

صنعتي فعالیتونه.

په ګڼ مېشـــــتو ځایونو کې اوسېدل (په ځانګړې توګه په هغو ځایونو کــې، چــې د پاکوالي له اړخه په ټیټه کچه کــې وي) پرته لدې، چــې انســـاني فعالیتونه، طبیعي او جیولوژیکي پېښــــې د اوبو سرچینو ته نېږدې واقع شي د استوګنځایونو د اوبو پر کیفیت اغېزه کوي.

**غیر صحي اوبه :**

خرابې اوبه هغه اوبه دي، چې له کارخانو، زراعتي مؤســـــــــاتو، د انســانانو او څارویو له غایطه موادو، د شفاخانو او حمامونو له وینځلو او همدارنګه د ودانیو له بامونو، دیوالو، سړکونو او ډګرونو څخه اخیســتل شـــوې وي. د خرابو اوبو خواص په هغو ځایونو پورې اړه لري، چې اوبه پرې تېــرېــږي او څه ډول مواد له ځان سره اخلي، د بېلګــې په توګه: منرالي مواد، زهري مواد، عضـــوي مواد، په اوبو کې ګډ شوي عضـــوي مواد د کم یا زیات بوی لرونکي وي، چې غازات یــې هوا ته پورته کېږي او د هوا ککړتیا را منځته کوي.

همدارنګه د روغتیاســـاتنې له نظره خرابې اوبه هغه دي، چې د څارویو له غایطه موادو سره ګډې شوې وي او یا له هغه ځای څخه تېرې شــوې وي، چې غایطه مواد جمع کېږي. دغه ټولې اوبه یو ډول کیفیت لــري، د بېلګــې په توګه یو لیتر اوبو کــې کېدای شي د مایکـــرو اورګانیـــزمونو شمېر له څو سوو تر یو میلیون پورې تر سترګو شي، چې په دې ډول اوبو کې پاتوجن مکروبونه او د پازیتونو هګۍ هم شتون لري.

همدارنګه هغه اوبه، چې له صــــنعتي کارخانو څخه راځي د بېلا بېلو ځانګړو خواصــــــــو لرونکې وي، په دې اوبو کې دزهري موادو او نورو ککړتیاو شتون پدې پورې اړه لري، چې څه شــی وینځل شـوي او کوم مواد پکې اســتعمال شـــوي، په دې ډول اوبو کې د فینول ســـینات، ارســـــــینک، مس، سرب، نایتروجن لرونکي مرکبات او نور کیماوي مرکبات هم موجود وي که له دې ډول اوبو څخه اســـــتفاده وشي په انسانانو، حیواناتو، کبانو او چرګانو کې د مړینې لامل ګرځي .

په ورته وخت کې هغه اوبه، چې له مســـــلخ او د حیواناتو د پوستکو او وړیو د پروســــــــــس له کارخانو، بیولوژیکي فابریکو، کلینیکونو او همدارنګه له زراعتي فارمونو څخه راوځي، چې د غایطه موادو او ادرارو زیاته اندازه له ځان سره لري، چې په دې کې د ساري ناروغیو مایکرو اورګانیزمو عاملین ډېر وي د انسان ژوند او روغتیا ته خطر پېښوي.



**د روغتیا ساتنې سیستم :**

په هر ښار او ښار ګوټي کې د فاضله اوبو بېلابېل ډولونه لکه په تشنابونو کې مصرف شوې اوبه، په پخلنځیو کې د وینځل شوو لوښو اوبه، د مختلفو صنعتي پروسو فاضله اوبه، د انسانانو او څارویو غایطه مواد، د کوڅو او سړکونو فاضله مواد او داسې نور هره ورځ تولیدېږي.

که چېرې په ښار کې د تولید شوو فاضله موادو د راټولولو، تصفیه کولو او لرې کولو لپاره مناسب ترتیبات ونه نیول شي، نو دا راټولېږي او یو داسې ناوړه حالت رامنځته کوي، چې د فاضله اوبو د جمع کېدو له امله د کورونو، سړکونو خوندیتوب له ګواښ سره مخ کېږي .

سربېره پردې د خوسا او ولاړو اوبو څخه ناروغۍ او بکتریاوې راپیدا کېږي او د خلکو روغتیا په خطر کې اچوي. د څښلو اوبه ټولې ککړېږي او په پایله کې غیر روغتیایي حالت رامنځته کېږي، چې د ښارمېشتو وګړو ژوند له ستونزو سره مخ کوي.

نو په دې اساس د ښار او ښارګوټي اوسېدونکو د دلچسپۍ لپاره دا اړینه ده، چې ټول تولید شوي فاضله توکي راټول، تصفیه او په داسې ډول لرې کړی شي، چې ښاریانو ته د ضرر لامل نه شي .

**روغتیا ساتنه څه شی دی؟**

روغتیا ساتنه د بېلابېلو ناروغیو له خپرېدو څخه د خپل ځان او چاپېریال پاک ساتل دي .

په دې برخه کې د خپل بدن پاک ساتل، د کالیو پاک ساتل همدا شان د خپلو ورځنیو شیانو پاک ساتل، چې په ورځني ژوند کې ترې استفاده کېږي.

د روغتیا ساتنې په برخه کې باید موږ هر یو خپل ځان او چاپېریال ته ډېر متوجه واوسو، خپل بدن باید پاک وساتو له تشناب څخه د راوتلو په وخت کې باید لاسونه په صابون ووینځو او دا کار باید خپلو ماشومانو ته هم ورزده کړو. فاضله مواد باید منظمو ځایونو ته انتقال شي، په هغو کوهیانو کې، چې د څښلو اوبو لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي باید وخت نا وخت هغه کیمیاوي مواد واچول شي، چې د اوبو په پاکولو کې په کارېږي.

همدا شان د اوبو زېرمه، چې د اوبو د ذخیره کولو لپاره ترې استفاده کېږي، درې څلور اونۍ وروسته پاکې شي او د مکروب ضد موادو په مټ ووینځل شي؛ تر څو مکروب یې له منځه لاړ شي.

هغه اهلي حیوانات، چې په کورونو کې ساتل کېږي، له هغوی سره له اړیکې څخه وروسته باید لاسونه په صابون ووینځل شي.

لنډه دا، چې د WASH په اړه له مطالعې څخه داسې څرګندېږي، چې دغه موضوع د پاکو اوبو رسولو، روغتیا ساتنې او فاضله اوبو په کنټرول باندې راڅرخېږي.





# برای تداوی بیماری سوراخ قلب به کجا مراجعه کنیم؟

عزیزاحمد متین

قلب مهم ترین ارگان بدن است و وظیفه تنظیم سیستم خون رسانی و اکسیجن رسانی به ارگان های دیگر بدن را بر عهده دارد. در صورت بروز هر نوع نقصی در قلب، سیستم خون رسانی با اختلالاتی خفیف یا شدید مواجه می شود.

بر اساس تحقیقات و آمار جهانی از هر ۱۰۰۰ نوزاد که به دنیا آمده، ۸ نوزاد با نقص سوراخ قلب به دنیا می آیند. سوراخ بودن قلب نوزاد از همان دوران جنینی در بطن مادر شکل می گیرد. این عارضه به عنوان یکی از بیماری های مادرزادی قلبی به شمار می آید.

سوراخ قلب و شدت آن وابسته به چیست؟ در برخی موارد این سوراخ با افزایش سن بسته می شود، و فرد به زندگی طبیعی خود ادامه می دهد. در برخی موارد نیز، سوراخ بودن قلب نوزاد نیاز به دوره های درمانی تخصصی و جراحی دارد. اصلی ترین دلیل سوراخ بودن قلب نوزاد، عوامل وراثتی و اختلالات ژنتیکی هستند. در صورتی که یکی از والدین مبتلا به بیماری های قلبی باشد، احتمال ابتلای فرزندان آن ها به بیماری های قلبی مادرزادی درصد بالایی دارد. سوراخ بودن قلب نوزاد نیز یکی از شایع ترین بیماری های مادرزادی قلبی محسوب می شود. از دلایل دیگر وجود سوراخ در قلب نوزاد، اینست که زنان باردار در طول دوران بارداری از مصرف سیگار یا دخانیات خودداری نکنند، احتمال سوراخ بودن قلب نوزاد در اثر مصرف این مواد بسیار بالا ارزیابی شده است وعوارض خطرناک دارد.

سوراخ بودن قلب نوزاد به شکل ها و اندازه های مختلف عارض می شود. برخی از سوراخ های ایجاد شده در قلب، بسیار کوچک هستند و با گذشت زمان و افزایش سن بسته می شوند. از این رو خطرات جدی برای بیمار عارض نمی کند. در صورتی که اندازه سوراخ بزرگتر باشد، باعث بروز مشکلات مختلف در بیمار می شود. علائمی که نشان دهندۀ سوراخ در قلب نوزاد هستند عبارتند از: مشکلات تنفسی، ضعف، تعریق و خستگی زود هنگام در حین فعالیت های عادی، افزایش وزن غیر طبیعی در نوزادان و کودکان، با مشاهده این علائم بهتر است به متخصص قلب و عروق مراجعه شود. در صورتی که نقص سوراخ بودن قلب، شدت بالایی داشته باشد، خطراتی به دنبال خواهد داشت؛ که عبارتند از:

الف ـ بروز بیماری نارسایی قلبی

ب ـ ایجاد عفونت در ساختار قلب

ج ـ ایجاد مشکلات و اختلالات تنفسی رشد غیر طبیعی در کودکان

جمعیت هلال احمر افغانی به مثابه یک نهاد ملی و بشردوست همیشه تلاش و کوشش کرده تا درد ورنج مردم را از طرق مختلف کاهش دهد، جمعیت هلال احمر افغانی علاوه بر توزیع مواد غذایی و غیر غذایی، رسیدگی به حالات اضطرار، آموزش و ارتقاء ظرفیت و... در بخش صحت هم دست بالای دارد، که خوشبختانه با داشتن کلینیک های ثابت و تیم های سیار سالانه برای هزاران خانواده مستحق و بی بضاعت بصورت رایگان خدمات صحی ارائه میکند. از آن جمله خدماتی چون تداوی بیماران مصاب به سوراخ قلب که هزینه تداوی اش بیش از ۲۰۰ هزار افغانی است، که بصورت رایگان جمعیت هلال احمر افغانی افراد مبتلا به این بیماری را ثبت و جهت تداوی به شفاخانه های داخل و خارج کشور میفرستد.

هلال احمر افغانی در طی ۱۴ سال گذشته ۲۶۴۸۱ تن اطفال مبتلا به بیماری سوراخ قلبی را ثبت نموده است که از این تعداد تقریباً نیمی از بیماران تداوی شده اند.

هلال احمر افغانی تنها در ۲ سال گذشته ۱۸۰۱ طفل را برای عملیات به شفاخانه ها معرفی نموده است که از این جمله ۱۶۰۰ بیمار تحت تداوی صحت یاب شده و متباقی تاهنوز در شفاخانه ها تحت تداوی قرار دارند .



# د اړمنو او حرفوي سوالګرو پېژندنه

هجرت الله میوند

د ځمکې پر مخ ټول ژوي خپل ژوند کې خوراک څښاک ته اړتیا لري او ټولو ته الله تعالی په خپله د خوراک او څښـاک امکانات برابروي، لکه چې فرمایي: «و ما من دابة فـی الارض الا علـی الله رزقها»(هود۱٦) ژباړه: په ځمکه کې هېڅ داسې ژوی نشـته مګر دا چې رزق یې په الله تعالی باندې دی. د ژوو ډېری برخه خپلې اړتیاوې نه زېرمه کوي، لکه چـې فـرمایـي:«و کأین من دابة لا تحمل رزقها الله یـرزقها و ایاکم» (العنکبوت۱ ٦٠) ژباړه: څومره ډېـر ژوي دي، چـې خپل رزق له ځان سره نه وړي، الله هم هغوی ته رزق ورکوي او هم تاسې ته. خو انسـان، چې هم د ځمکې خلافت ورکړل شـوی او هم یې په ودانولو مکلف دی او دارنګه د ځمکې پر مخ ټول مخلوقات ورته مسخر شوي او د دې تر څنګ دا توانمندي ورکړل شـوې، چې له هغو څخه کار واخلي د غیبي رزق په تمه ډاډه او هوسا نشي پاتې کېدی او په آرامه په خپل ځـــای کښېناستی نشي، بلکه د اړتیاو بشـپړولو بر سېره له نورو انسانانو سره په سیالۍ کې اخته وي. دا اړتیاوې او سیالۍ انسـان دې ته اړ باسي، چې هلې ځلې ډېرې وکـړي، نو کله چـې په خپلو هڅو کـې ناکام شي بیا یې هلې ځلې له ارادې څخه بهر شي، د حلالو او حرامو توپیر ورته ګران شي، دې ته یې پام نه کېږي، چې د حرام مال په لاســـته راوړلو کې زه نور څومره معنوي تاوانونه کوم. انسان ته په کار ده، چې په خپلو هیلو کې د ناکامۍ په صورت کې وارخطاء نشي، ګیلې او شکایت و نه کړي، حرامو چارو ته لاس وړاندې نه کړي او په خپل رب ربښتونی توکل وکړي. په دې هکله نبی کریم صلی الله علی وسلم فرمایلي: که تاسې په الله تعالی ربښتونی توکل وکړئ، نو الله تعالی به داسـې رزق درکړي لکه چې مرغانو ته یې ورکوي، هغوی تشــــې ججورې له ځالې څخه اوځي او ډکې ججورې را ستنېږي. دا په دې معنی نه ده، چې انسـان به لاس تر ځنې کرار ناســـت وي او هېڅ فعالیت به نه کوي، بلکه معنا یـې دا ده، چې مشروع فعالیت به کوي او د نتیجې په لاسته راوړلو کې به په الله تعالی توکل کوي.

**ربښتوني اړمن سوالګر:**

ځیني انســـانان د ځینو عواملو له امله د کار او زیار توان نلري او کله داسـې حالت ته رسېږي، چې لوږه پرې دومره غالبه شي، چې د مرګ کومې ته رسېږي، خو د خپل د شخصیت او کرامت د ساتنې په موخه چا ته د سوال لاس نه وړاندې کوي، همدې ته ایماني او انســـــاني شهامت ویل کېږي. الله تعالی دا ډول انســانان په خپل کتاب کې د هغوی د صبر او حوصلې پر بناء ډېر ستایلي دي او دا ستاینه یې هم کړې، چې هغوی له خلکو څخه په اصرار او تکرار غوښــــتنه نکوي«لا یسـألون الناس الحافا» (البقرة۲۷۳)او نور مسـلمانان یې ګومارلي، چې د هغوی په لټه کې اوسېږي او له خبرو څخه یې و پېژني او مرسـته ورسره وکړي« تعرفهم بسـیماهم» .(البقرة۲۷۳) د نبی علیه السـلام څرګندونه ده: هغه څوک بشـپړ ایمان نه لري، چې ګاونډ یې وږی وي او دی په مړه ګېډه خوب کوي.

که خدای مکړه چېرته داسې څوک وي، چې څوک یې نه پېژني او یا ترې خبر نوي، نو هغه ته اجازه شته، چې له خپل مسلمان ورور څخه مرسته وغواړي، خو په دې شرط، چې د سوال له لارې یوازې دومره څه په لاس راوړي، چې له مړینې څخه وژغورل شي.

**حرفوي سوالګر:**

ځینې خلک سره له دې، چې د کار او کسب توان لري په سوال اخته دي او د سوال له لارې یې ځانته سرمایه جوړه کړې، ښکلي کورونه، بنګلې او موټرې یې پېرلي، خو بیا هم زړې جامې اغوندي او په بازارونو کې سوال کوي او که څومره ډېره مرسته ورسره وکړی شي بیا هم سوال کوي، چې دې ډول خلکو ته حرفوي سوالګر ویل کېږي. دا ډول خلک په ټولنه کې کرغېړنه څېره لري، ځکه چې دوی خلک په حرج کې واقع کوي، د دوی له امله رښتوني اړمن د خلکو له مرستو محروم شوي. که چېرې رښتونی اړمن هم چا ته د سوال لاس وړاندې کړي، خلک پرې د حرفوي سوالګر ګومان کوي. دا ډول سوالګر دومره ډېر شوي، چې د رښتوني اړمن او حرفوي سوالګر توپیر ګران شوی.

**له سوالګروسره په عمومي ډول څه کول پکار دي؟**

له دې امله، چې عام خلک نشي کولای اړمن سوالګر او حرفوي سوالګر توپیر کړي، نو پکار ده، چې له هر سوالګر سره نرم چلند وکړي او هغه نا هیلي پرې نږدي، یا یو څه ورکړي او یا دا چې په پسته لهجه ځواب ورکړي او بښنه ترې وغواړي، ځکه چې الله تعالی فرمایي: «و اما السائل فلا تنهر» (الضحی\١٠) دلته د السائل لفظ کې هر ډول سوالګر شامل دي او دا د دې لپاره، چې د حرفوي سوالګر له امله رښتوني اړمن سوالګر محروم نشي. که ثابته شي، چې دا حرفوي سوالګر دی، نو هېڅ ورکول پکار ندي او نصیحت باید ورته وکړی شي. که چېرې په نصیحت هم اصلاح نشی، بیا ایماني دنده دا ده، چې حکومتي کار کوونکو ته معرفي کړی شي.

**د سوالګرو په هکله د سرې میاشتې کړنې:**

له دې کبله، چې په ښارونو کې د سوالګرو ګڼه ګوڼه زښته ډېره شوې او له اړمنو سوالګرو څخه د حرفوي سوالګرو تعداد ډېر شوی و او ډېری خلکو سوال د ځان لپاره د حرام رزق یوه وسیله جوړه کړې وه، نو ځکه اسلامي امارت دې ته اړ شو، چې سوالګر له ښارونو او بازارونو څخه را ټول کړی شي، چې د را ټولو او پېژندلو لپاره ئې ځانګړې کمېټه وټاکله، چې ګڼ شمېر نارینه، زنانه او ماشوم سوالګر را ټول کړی شول. پدې هکله د سرې میاشتې عمومي ریاست ته هم سپارښتنه وشوه، چې په دې لړۍ کې لاس په کار شي او له مستحقو سوالګرو سره مرسته وکړي. سرې میاشتې وکولای شول، چې د را ټول شوو سوالګرو کورنونه په شفافه توګه سروې او وګړي یې بایو متریک کړي، په دې سره حرفوي سوالګر او رښتوني اړمن سوالګر وپېژندل شول. د وروستي معلوماتو په رڼا کې ویلی شم، چې تردې مهاله په یوولس دورو کې ١٧٥٢ کورنۍ د رښتینو مستحقینو په توګه پېژندل شوي او هرې کورنۍ ته په مختلفو دورو کې نغدي مرستې توزیع شوې او ځینو د محاکمو له لارې شرعي وثیقې جوړې کړې او خپله بې وزلي یې ثابته کړه، چې د بانک له لورې د هر یو حساب ته ټاکلې اندازه مبلغ د مرستې په توګه ورکول کېږي، دغې برنامې و کولای شول، چې یوې خوا ته له رښتینو بې وزلو سره مرسته وکړي او بلې خوا ته د هغو حرفوي سوالګرو مخنیوی وکړي، چې ډېره ګڼه ګوڼه یې جوړه کړې او د اسلامي ټولنې رنګه یې بده کړې وه. د یادونې وړ ده، چې دا لړۍ اوس هم د هېواد په کچه روانه ده.






# کله چرک یا ډډ غومبوري

د. رحمت الله ځیرک

دا یوه حاده ساري وایروسي ناروغي ده، چې دژمي او سپرلي په موسم کې ډېره خپرېږي او د لعابیه غدواتو د اخته کېدو له امله مینځ ته راځي، چې ډېری له ۵ـ۱۵ کلن ماشومان پرې اخته کېږي. تر ۵ کلنو وړو ماشومانو اخته کېدل ځکه نادره دي، چې له مور نه د پلاسنتا انتی بادي ورته انتقال شوې وي.

**اعراض او علایم:**

د انسان په مخ کې د غوږ د نرمۍ لاندې ځای یا غمبري یوه خوا او کله کله دواړو خواوو ته پړسوب پیدا کېږي او تبه هم ورسره وي او ماشومانو ته د خولې په خلاصولو او خوړو په ژولو کې تکلیف وي او ځینې ماشومانو ته د کانګو ستونزه هم پیښېږي. ځنې وختونه د وجود نور غړي هم مبتلا کوي او امکان لري جدي ستونزې ناروغ ته پیدا کړي. ځکه چې یاد ویروس کولای شي عصبي انساج، تیان، ځیگر، بندونه، خصیتین او زړه مصاب کړي.

**انتقال:**

دا ویروس له پړسوب څخه شپږ ورځې رومبی او نهه ورځې وروسته د خولې په لعاب کې شته وي، نو له ناروغ انسان سره د مستقیم تماس له امله کله چې ناروغ ټوخی یا پرنجی وکړي او لاړې یې هوا کې خپرې شي او روغ انسان یې تنفس کړي انتقالیږي، دارنگه کله چې روغ انسان هغه لوښي استعمال کړي، کوم چې د ناروغ د بدن په مایعاتو ککړ شوی وي انتقال مومي. او کله چې روغ انسان ته ورسېږي له ۲ـ۴ اونیو پورې د تفریخ دوره لري او وروسته له هغه یې اعراض او علایم څرګندېږي.

**مخنیوی:**

ښه خبره داده په کوم ماشوم کې، چې د نوموړې ناروغۍ نښې را څرگندې شي، نو تر پینځو ورځو پورې باید د گڼې گوڼې ځای ته لکه ښوونځي یا مدرسې ته لاړ نشي او کور کې یې د خوراک او څښاک لوښي جلا شي، ځکه نوموړې ناروغي ساري ده او د لاړو او پرنجي له لارې نورو ماشومانو ته هم خپرېږي.

**واکسین:**

د نوموړې ناروغۍ لپاره واکسین هم شته، چې نږدې کلینیکونو کې ماشومانو ته تطبیق کېږي، کوم ناروغان چې نوموړې ناروغۍ باندې یوځل اخته شي نو دویم ځل اخته کېدو چانس یې ډېر لږ ده، هغه خلک چې ټول ژوند کې په یاده ناروغۍ نه وي اخته شوي، امکان لري په لوړ عمر کې پرې اخته شي. دارنگه که چېرې یاده ناروغي په سیمه کې مزمنه شي بیا هم مشران پرې مبتلا کېدلای شي.

**لومړنۍ مرستې:**

ناروغ ته باید نرم او گرم خواړه ورکړل شي ترڅو په ژولو کې ورته تکلیف نه وي او د مخ په پړسېدلي ځای یې لمده ټوټه کېښودل شي، ترڅو پړسوب او درد راکم کړي او خوله یې باید پاکه وساتل شي او د تبې لپاره ورته د تبې ضد درمل (پاراسیټامول یا بروفین) ورکړل شي او د ناروغۍ د شدت په صورت کې نږدې روغتیایي مرکز ته انتقال شي.

# خود کفایي

وحیدالله حیدر

کمک کردن با مستمندان به صورت عموم یک مرتبهٔ والای انساني است، البته کمک ها نظر به چگونگي و پرداختن آن از نظر زمان، مکان و حل مشکل حاجتمندان مراتب مختلف دارند. صدقهٔ جاریه به تناسب صدقهای مقطعی در جایگاه اعلی قرار دارد، زیرا که شخص محتاج میتواند تا یک مدت زمان طولاني تر از آن مستفید شود و اگر کسی به شخص محتاج چنان چیزی بدهد و یا بیاموزاند که وی تا به اخیر عمرش از احتیاج به دیگران مستغنی گردد، در اعلی ترین مراتب قرار می گیرد. بناء نهاد هلال احمر افغاني که بنیادش جهت تقلیل آلام بشري با حفظ کرامت انساني نهاده شده است، همه وقت در پی دستگیري از مستمندان بوده، به همین منظور مرستون های را در ولایات متعدد کشور ایجاد نموده که مسکن و تربیتگاه خانواده های بی سرپرست بوده و میباشد. در کنار تربیه در عرصه تعلیم اولاد های ایشان نیز خدمات قابل ملاحظه صورت میگیرد. بر علاوه تعلیمات عصری، تعلیمات دیني، پابندي به نماز و مراعات حجاب و غیره احکام دیني برایشان تلقین میشود. مشمولین در مرستون حد اقل مدت سه سال را سپری میکنند که در این مدت زمان با آموختن حرفه های مختلف میتوانند بعد از فراغت توانایی به دست آوردن نفقه حلال به اطفال خودرا داشته باشند.

صنعت یکی از پایه های مهم اقتصادی کشور ها شمرده شده و بعد از تجارت و زراعت در کشور ما در جایگاه سومی قرار دارد؛ از جمله صنعتهای مروجه کشور صنایع دستی میباشد، مشهور ترین صنایع دستي در افغانستان قالین بافی، گلیم بافی، خیاطی، گلدوزی، چرمه دوزی، خامک دوزی، بافت های دستی و غیره میباشد.

بناء جهت خود کفا شدن فامیلهای مشمول در مرستون آموزش حرفه ها و صنایع دستی نیز انجام میشود. میتوان گفت ۹۵ فیصد خانواده های فارغ شده از مرستون ها در خانه های خویش از همین طریق امرار معاش میکنند.

چون بیشتر مشمولین مرستون ها از طبقه اناث هستند، هلال احمر همان برنامه های را انتخاب نموده است که یک خانم بتواند در داخل خانه تولیدات داشته باشد و بدون هتک حرمت و کرامتش نفقه حلال برای اولادهایش بدست آرد.

آموزش حرف های که در مرستون مرکزی کابل جریان دارد ویا هم در نظر است که در آینده های نزدیک جریان یابد عبارت اند از:

**قالین بافي:**

در کشور عزیز ما بافت انواع قالین ها از قدیم موجود بوده که نسبتا مغلق است، که با داشتن مهارت و تجارب خاص اجراء میشود. از اینکه منسوجات کشور از پشم تولید شدهٔ مواشی داخل کشور صورت میگیرد، دارای کیفیت عالی، محکم و رنگ جذاب میباشد و در مارکیت جهاني شهرت به ویژه دارد که از جمله صادرات عمده بوده و عواید خوب دارد. البته طبق گذارش که از مرستون کابل در دست داریم مواد و لوازم آموزشي قالین بافی تهیه شده است و در آینده نزدیک شروع خواهد شد.









## گلیم بافي:

این هم نوع از صنعت های دستی کشـور است و از انتاجات پشـمی داخل کشـور بافته میشـود دارای بافت نسـبتا آسان بوده و سریع تر انجام می یابد و در داخل کشور موارد استفاده بیشتر دارد .این هم به نوبه خود مدرک عایداتی مهم فامیل ها را تشـــــکیل میدهد. فعلا مشمولین مرستون مرکزی کابـل مصروف آموزش گلیم بافی اند، البته در سال جاری توانســـته اند چهار تخته گلیم ببافند و به بازار عرضه نمایند.

## خیاطی:

چون لباس از ضروریات یومیه هر فرد میباشـد، بناء تهیه لباس های مردانـه،زنـانـه و طفـلانه از جمـله مـصروفیت های است که میتواند جایگاه خاص را در مارکیت کشـور داشته باشد. مشـمولین مرستون مرکزی کابل با داشـتن اسـتاذان ماهر این صـنعت را فرا میگیرند. که فعلا به تعـداد ۱۲۴ تن مشـمولین مصروف آموختن صنعت خیاطی بوده، و توانسـته اند که لباس های تهیه شدهٔ دستی خویش را به بازار عرضه نمایند. مرسـتون کابل به تعداد ۸۹ پایه ماشـین خیاطی وغیره لوازم آنرا تهیه نموده است تا به مشـــمولین فارغ شده توزیع نموده و مشـمولین با آموختن این پیشــه بتوانند بعد از فراغت دارای عواید خوب باشند.

## چرمه دوزي و مهره دوزي:

این حرفه که عبارت از دوخت چرمه و نصب مهره در روی رخت بخملي و ساده میباشد، با مهارت خاص اشکال ورسـم های گلها و گلبرگ ها با دیزاین های زیبا ترتیب میشـود، از این رو لباسهای گوناگون زنانه و طفلانه ساخته میشـود، این نوع از لباس ها در مارکیت های داخل و خارج کشــور عرضه و تقاضای قابل ملاحظه دارد که بنام گند افغاني شهرت دارد. شـاگردانیکه مصروف آموختن تهیه لباس گند افغانی اند توانســـته اند تا حال ده جوره لباس گند افغاني تهیه نمایند که یک تعداد آن به بازار نیز عرضه شده است.

## فارم های کوچک مرغداری:

فارم های کوچک مـرغداری که میتواند یک منبع عایداتـی در داخل خانه برای یک فامیل باشـد، مرسـتون مرکزی هلال احمر افغاني در ولایت کابل برای یازده فامیل مشـمول بیرونی به هر فامیل ۳۵ رأس مـرغ با یک مقدار دانه و غیـره لوازم که عبارت از آبخوره ، دانه خوره و غیره میباشد توزیع نموده است.



# شــــــــری

# (measles)

ډاکټر فضل الرحیم مایار

**شری څه ډول ناروغي ده؟**

شری د ماشـومتوب د دورې یوه حاده انتاني ناروغي ده، چې دMyxy virus ګروپ د یوځانګړي وایروس په واسـطه رامنځته کېږي. چې عام کلینیکي اعراض اوعلایم یې تبـه، د لـوړ تنفـسي سیــستم اعراض (ټوخی او د ریزش اعراض) موضــعي رشـــونو او د ســتر ګو د منظمې التهاب څخه عبارت دي، چې یوازې انسانان پرې اخته کېږي. په ټوله نـړۍ کـې په اینډمیک ډول رامنځته کېـږي، خو کېدای شي په وبایـي ډول هم رامنځته شي. په پـرمخ تللو هېوادونو کـې کمه ده او په پـرمخ تلونکو هېوادونو کې یوه عامه ناروغي ده، چې په دې ډول هېوادو کـې یې مصابیت او مړینه هم ډېره ده. په لوړه کچه مړینه او مصـابیت یې په ماشومانو کې د واکسین نه ورکولو له امله وي.

**دشري د ختمولو په مقابل کې ننګونې:**

۱ - د معافیتي سیستم کمزوري.

۲ - د Measles لوړ انتاني فطرت.

۳ - هغه خلک چې د شخړو له امله واکسین ته لاس رسی نه لري.

۴ - د خلکو انکار له واکسین څخه.

۵ - اپیډیمیولوژیک بدلونونه.

٦ - د خلکو اومالي سرچینو په مینځ کې واټن.

**د اخته کېدو عوامل:**

**۱ - عامل:**

شری د یو Paramyxo RNA وایروس په واســطه رامنځته کېږي او یو سیروټایپ لري، چې د انسان د وجود پر بهرنۍ سطحه د اوږدې مودې لپاره ژوند نشي کولای. مګرهغه وخت انتاني وي، چې له صفر څخه په ټیټه درجه تودوښه کې و اوسې.

**۲ – منبع:**

یواځینۍ منبع یې د شري واقعه ده او ناقل یې څرګند ندی.

**۳ - انتاني مواد:**

په مخبیـره دوره او د رشونـو پـه لمـړۍ مرحله کې د تنفسي سیستم افرازات انتاني وي.

**۴ - ساري توب:**

شری په مخبیره دوره او د پیـل کېدو په وخت کې ډېر ســاري وي او د رش له ښکاره کېدو وروسته کمېږي. د ساري توب دوره د رش له ښکاره کېدو څخه تقریباً څلور ورځې مخکې او څلور ورځې وروســـته وي او د رش له پیل څخه تر یوې اونۍ پورې د ناروغ جلا ســاتنه د ســاري توب دوره ډېره کموي.

**د مېزبان عوامل:**

**۱ - عمر**: په نوزادانو او ماشـــومانو کې هر يو اخته کولای شي، چې له شپږو مياشتو تر دريو کال عمر ډېر ورته مســـــاعد دی. په مخ پر وده هېوادونو کې، چې ناسم محيطي شرايط ولري، هغه ماشومان، چې له پينځو کالو څخه لوړ عمـر ولـري هم اخته کوي. په پـرمخ تللو هېوادونو کې د واکسين د استعمال په وجه يې واقعات لږ شوي دي.

**۲ - جنس:** واقعات يې په دواړو جنسونو کې برابر دي.

**۳ - معافيت:** که چېرې پخوانی معافيت نه وي، هېڅ عمـر معاف ندی. د شري يوه حمله د ټول عمـــــر لپاره معافيت رامنځته کوي او دوهمه حمله يې نادره ده . ماشـومان د مورنې انتي باډي په واسـطه تر شـپږو مياشـــتو پورې له ناروغۍ خوندي دي، خوځينې تر ۹ مياشـــتو پورې خوندي وي. د واکسين په واسطه معافيت د اوږد عمر لپاره دی.

**۴ - تغذيه:** په سوء تغذي ماشومانو کې ډېر شـديد وي، مړينه په سـوء تغذي ماشومانو کې د ښه تغذي ماشومانو په پرتله ۴۰۰ ځله ډېره ده.

**محيطي عوامل:**

په هر موسـم کې خپرېدای شي. په گرمو سيمو کې يې واقعات په وچ موسم کې او په تودو سيمو کې د ژمي په موسم کې ډېر وي.

**انتقال:**

د خارښ له پيل څخه څلور ورځې مخکې او څلور ورځې وروســته له يو شخــص څـخه بل شخــص تــه په مستقيم ډول انتقالېږي. د تنفسي سيستم او د ستر گو د منظمې له لارې هم انتقالېدای شي.

**د تفريخ دوره:**

د تفريخ دوره يې په عام ډول لس ورځې ده، چې د اخته کېدو څخه بيا د تبې تر پيل پورې او درش تر څر گندېدو پورې ۱۴ ورځــې موده لـري، چې د Live measles واکســـين په واسطه کولای شو د تفريخ دوره را لنډه کړو.

**کلينيکي منظره:**

**۱ - مخبره مرحله:**

دا مرحله له انتان څخه لس ورځې وروسته شروع کېږي او تر ۱۴ ورځو پورې دوام کوي. په دې مرحله کې تبه، زکام، پرنچې، د پوزې بهېدل، ټوخی، د ســتر گو ســور والی، افرازات او له رڼا څخه وېره شـــته وي، کېدای شي کانگې او اسهال هم ورسره وي. او له رش څخه يوه يا دوې ورځې رومبی ممکن د بورې په شکل سپين خالونه په خوله کې وليدل شي، چې مهمه پتوگونومينيک يعنې وصفي نښه ده.

**۲ - تخريبي مرحله:**

په دې مرحله کې يو سور رنگه مکولر يا مکولو پاپولر رش د غوږونو شاته پيل کېږي، او په چټکتيا سره په يو څو ســـاعتو کې مخ، غاړه او له دوه څخه تر درې ورځو کې لاندې برخو ته پرمختگ کوي. دارشونه کېدای شي جلا او يا سره گډ وي.

**۳ـ له شري څخه وروسته مرحله:**

ماشـــوم به وزن بايلي او د څو ورځو لپاره به کمزوری وي . کېدای شي ښــه والــی رامنــځته نــشي او بــدتر يا مزمن حالت ته ولاړ شي. د نورو بکتــرياو يا وايــروسي انتاناتو د تغذي او ميتابوليک تاثيــراتو له امله کېدای شي د ودې وروســـته والی، اســـهال، تقيحی انتانات، د ريوي توبر کلوز بيا فعالېدل او داسې نور را منځته شي........

پاتې په بله گڼه کې





# خطرات ناشی از فصل سرما

عیسی خېل

همه ساله همزمان با فرارسیدن زمستان در کشور ما میزان مرگ و میر ناشــی از زغال گرفتگی و گاز گرفتگی در میان شــهروندان افزایش مییابد و این فاجعه خاموش تعداد زیادی را به کام مرگ میکشـــاند.

معمولا در افغانســـتان به خصـــوص در شهر کابل مردم برای گرم ساختن خانه های شان در فصـــــل سرما از بخاری های گازی و زغالســـنگ سوز استفاده میکنند که این امر سبب میشـــود تا آمار مسمومیت ناشی از زغال گرفتگی و گاز گرفتگی بالا رود.

در فصـــل زمســـتان خبرهای زیادی مبنی بر از بین رفتن خانواده ها درنتیجه زغال گرفتگی و یا گاز گرفتگی دررســـانه ها و شــبکه های اجتماعی دســت به دست میگردد. بی احتیاطی، نا آشــنایی مردم در قســمت چگونگی استفاده از سوخت زغال سنگ و استفاده از بخاری های گازی، از عوامل و دلایل اصــلی زغال گرفتگی و گاز گرفتگی به شـــمار میرود. با توجه به افزایش آمار قربانیان گاز گرفتگی، زغال گرفتگی و حادثات مســمومیت ، آسیبشــناسی و ارائه معلومات در این زمینه برای خانواده ها بسیار مهم وضروری است. آلودگی هوا خطری است که در افغانســتان کمتر به آن توجه میشود در حالی آلودگی هوا زیان های جبران ناپذیر بر صــحت شــهروندان وارد میکند و میتواند سبب مرگ آنها شود.

همهء شما شاهد بیماری های بیشــتر در این فصــل هســتید، حتما توجه کرده اید که اکثر بیماران در این فصـــــل از گرفتگی صدا، گلودردی، تنگی نفس، ریزش، حســاسیت و آلرژی ها شکایت دارند، چون ۸۵٪ آنها بدلیل تنفس دود زغال ســـنگ و آلودگی هوا به این بیماری ها مبتلا شده اند.

تا زمانی که استراتژی های بزرگ برای کاهش آلودگی هوا در کشور به وجود نیاید این مشکل راه حل دیگری نخواهد داشت.

زغال سنگ وقتی میسوزد دود بسیار غلیظ و خطرناکی از خود تولید و در فضا پخش میکند که کاملا ســـرطان زا میباشد. وقتی انســان آن را تنفس کند سیستم های رئوي وشراین تنفســی ششهای اورا تحت تاثیر قرار میدهد و اورا به سرطان ریه نزدیک میسازد.

گاز گرفتگی یا زغال گرفتگی در اثر آزاد شــدن ترکیبات خاص کاربن مونوا کســاید یک گاز بی ذائقه و بی بو است که وارد سیســتم تنفســی شده و با خون انســان مخلوط و از آن طریق وارد سیســتم حیاتی بدن مانند دماغ میشــود که حتی شخص را به راحتی در حالت بیداری نیز مسموم میکند. داکتران میگویند، زمانی که آکسیجن کافی از طریق دود کش یا منافذ دیگر به مواد ســوختی زغال ســنگ نمیرســد، گاز بی رنگ و بی بو خارج شده و به محیط پخش میشــود و بدون آنکه اعضــای خانواده متوجه آن شوند، مسموم میشوند.

به گفته آگاهان گاز زغال سنگ  باعث نرسیدن آکسیجن به مغز میشود که اگر فوراً تداوی نشود، به زودترین زمان مریض را از بین میبرد. تولید این گاز بی بو  و بی ذائقه توسط چری ها و بخاریهای کهنه و فرسوده، نادرست بودن لوله های بخاری، سوختن ناقص بخاری و زغالسنگ و باز بودن مسیر دود به طرف خانه، صورت میگیرد.

بعض از فامیلها خاکستر زغال یا زغال نیم سوخته را در صندلي ها میگذارند، که باعث مرگ و میر دسته جمعي اشخاص خفته در صندلي میشود و این چنین به سبب داخل کردن زغال نیم سوخته چوبی و یا زغال سنگ در حمام باعث مرگ میشود.

چنانچه واضح ترین نشانه های مسمومیت ناشی از زغالسنگ، تاریکی و خیرگی دید، نفس تنگی ، تهوع و استفراغ، هذیانگویی، سرگیجه،سردردی، دل بدی، سستی و ضعف است. مسمومیت باحالت خوابرفتگی و سستی بدن شخص شروع میشود. بعد از آن آهسته آهسته فکر و هوش انسان کاهش میابد، تپشهای قلب شروع میشود و شخص به هذیانگویی شروع میکند.

در کنار این موارد گفته میشود که هرگاه در قسمت تکاندن دود نل های بخاری یا ترمیم آن، بی توجهی صورت گیرد، خطر زغال گرفتگی بیشتر میشود. خانواده های که در تکاندن و پاک کردن نل های بخاری، ترمیم عوارض بخاری و نلهای آن و همچنین  دقت در کیفیت، روشن گذاشتن بخاری در هنگام خواب، تنبلی و بی احتیاطی میکنند، به شدت در معرض خطر زغال گرفتگی قرار دارند.

با این حال داکتران توصیه میکنند که برای جلوگیری از زغال گرفتگی، شهروندان باید در قسمت تبدیل هوای خانه، ترمیم نل های بخاری، تکاندن دودها در داخل نل ها و بین دیوارها، توجه بیشتر کنند. به محض احساس سرگیجه یا تهوع، فوراً دروازه ها و پنجره ها را باز بگذارند. خانواده ها باید از قرار دادن زغالهای نیمسوخته و سیاه در صندلیها و داخل بخاریها خودداری کنند. نل های بخاری باید کوتاه و مستقیم به طرف بیرون تنظیم شود تا دود و بخار خارج گردد. در بالای بام نیز بالای نلهای بخاری کلاهک مخصوص نصب شود.

**توصیه به خانواده های محترم:**

در قدم اول سعی کنید به کودکان و کهن سالان اجازه ندهید که صبح و شام از خانه خارج شوند زیرا در این ساعات تمام فضای محیط منطقه پوشیده از دود زغال سنگ هستند.

اشخاصی که مجبور هستند در بیرون از منزل کار کنند و یا مصروفیت دارند باید جداً از ماسک استفاده کنند.

هرگاه فرد دچار مسمومیت شد فوراً به اتاق دیگر که دارای هوای آزاد باشد منتقل شود. در صورت حاد بودن، انتقال مسموم به کلینیک یا مرکز درمانی، تنفس مصنوعی دهان به دهان، دادن مایعات شیرین و لیمو در صورت که از هوش نرفته باشد از موارد است که باید برای شخص مسموم در نظر گرفته شود.

با این همه میشود گفت که آگاهی در این مورد سبب میشود تا خانواده ها در این فصل زمستان، قربانی این مرگ خاموش نگردند و نسبت به گاز  گرفتگی وزغال گرفتگی، تشخیص، راه های وقایه و تداوی آن آشنایی بیشتر پیدا کنند.





# د دعاء قبلېدلو
## ډولونه او خنډونه

د. اظهار الحق عزيز

**په تېر پسې...**

**د دعاء د قبلېدو ډولونه:**

که څوک ووايي، چې زموږ دعاء ګانې د قبلېدو په شرايطو برابرې دي او د قبلېدو موانع هم نه لري، خو تر اوسه نه دي قبولې شوې حال دا چې الله ﷻ په قرآن کې ژمنه کړې، چې فرمايي: «ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ» (غافر:٦٠) بل ځای کې فرمايي: «أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ» (البقرة:١٨٦) چې داولې؟

**دوی ته دې وويل شي:**

په دې کې څوک شك نشته، چې د الله ﷻ هره يوه وينا حقه ده او وعدې يې ټولې له واقع سره برابرې دي او هېڅ خلاف پکې نشته «وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ» (التوبة:١١١) او هغه څوك دی، چې له الله ﷻ څخه په خپله وعده باندې كلك وي؟ هېڅوك نشته.

را به شو د دعاء قبلېدو ته، الله ﷻ د بندګانو سوالونه قبلوي، خو دوی پوره وربانديې نه پوهېږي، دا ځکه چې د قبوليت بڼې يې ډېرې او بېلابېلې دي، د بېلګې په توګه:

ـ ځينې وخت الله ﷻ بنده ته عين هغه شی په ورته مهال ورکړي، چې بنده يې غوښتنه کړې وي.

ـ کله عين شی ورکړي، خو په بل وخت کې؛ امکان لري، چې انسان ته خپل سوال په ياد هم نه وي.

ـ کله د غوښتل شوي شي په بدل کې ورته ډېر لوی شی ورکړي او کېدای شي، چې خپل سوال ورپه زړه هم نه شي، چې دا خو د پلاني سوال قبلېدل دي.

ـ کله کله لا ورته بالکل آخرت ته وساتل شي، خو سوال كوونکی وربانديې خبر نه وي، خو چې د قيامت په ورځ اجر او عوض ورکړل شي، نو الله ﷻ پوهېږي، چې دا به ورته څومره خوشحاله شي؟

ـ کله کله که غوښتل شوی شی ورنه کړي، خو په عوض کې به يې له لوی غم او مصيبت څخه بچ کړي، چې څو چنده د غوښتل شوي شي څخه به ورته غوره وي، ځکه رسول الله ﷺ فرمايي: هر هغه څوک، چې دعاءوکړي الله ﷻ به هغه شی ور کړي، چې بنده يې غواړي او يا به ترې د هغه سوال په اندازه ضرر يا بدي لرې کړي؛ په دې شرط، چې دعاء يې په ګناه او يا د خپلوی په قطعه کولو نه وي کړې. رواه الترمذي واحمد

په يو بل حديث کې رسول الله ﷺ فرمايي: هر هغه سړی، چې له الله څخه دعاء وغواړي، الله ﷻ به يې دعاء قبوله کړي، يا به يې په دُنيا کې ورقبوله کړي او يا به يې ورته آخرت ته ذخيره کړي او يا به ترې د سوال په اندازه ګناهونه وبښي؛ په دې شرط، چې د ګناه او يا د خپلوی په قطعه کولو يې دعاء نه وي کړې او يا عجله نه کړي. رواه الترمذي.

ـ کله کله ورته غوښتل شوی شی په بله بڼه ورکړي د بېلګې په توګه يو نفر جراحي عملياتو ته اړتيا لري، خو پيسې ورسره نه وي، له الله ﷻ څخه د پيسو سوال کوي، چې عمليات پرې وکړي او جوړ شي، خو الله ﷻ روپۍ ورنکړي، خو له جراحي عملياتو پرته يې جوړ کړي، چې دا ورته د سوال له قبلېدو څخه هم غوره وي.

نو په کار ده، چې هر مسلمان له الله ﷻ څخه دعاء د عبادت په نيت وغواړي او پر دې يقين ولري، چې دعاء کول مې په ګټه دي، د دعاء په قبلېدو کې بايد هېڅ شک ونه کړي او يوازې الله ﷻ ته يې وسپاري، چې هغه ډېر ښه پوهېږي.

لنډه دا لکه څنګه چـــې په درملو ناروغان د الله ﷻ په اراده جوړېــږي؛ همدارنګه په دعاء یا ســـــــوال کولو او زاریو سره هم د الله ﷻ په اراده جوړېږي، نو د ټولو شـــیانو موجودول او معدومول یوازې د الله ﷻ کار دی، که د دعاء په قبلېدو سړی پوه نه شي باید د الله ﷻ څخه مایوسه او نا هیلی نه شي.

**د دُعاء د قبلېدو خنډونه:**

هغه عملونه، چې د دُعاء د نه قبولیت سبب ګرځي:

**۱ -په حرامو ځان ککړول :**

په حرامو ککړتیا هغه که خوراك، څښاك، لباس او یا په هر لحاظ د حرامو له لارې تغذیه وي، د دعاء د قبولیت مانع ګرځي .

رســـول الله ﷺ په یو اوږده حدیث کې فرمایلي: یو سـړی خپل ســـفر اوږدوي، ببر ویښــتان، خړ پړاو دواړه لاسونه اسمان ته پورته کوي او وایي چې ای ربه! ای ربه! حال دا، چې خوراك یې حرام، څښـــاك یې حرام، جامه یې حرامه او روزنه یې په حرامو، په دې حال کې به څنګه د دغه سړي دعاء قبوله شي. رواه مسلم

ابن رجب رحمه الله وایـــي: الله ﷻ له عملونو څخه یوازې هغه قبلوي، چې د ټولو مفسداتو او ناروااوو څخه پاک وي، لکه ریاء، کبر او هغه خیرات او صـدقات قبلوي، چې له حرامو پاک وي او حلال مال وي، ځکه د الله ﷻ په وړاندې اعمال، اقوال او اعتقادات له هـر ډول چټلۍ او حـرامو څخه باید پاک وي.

**۲ -د دعاء په قبلېدو کې بېړه کول او دعاء پرېښودل:**

د دعاء د قبولیت له موانعو څخه دا هم ګڼل کېـږي، چـې ځوک د دعاء ګانو په قبلېدو کې بېړه کوي، چې همدا اوس دې قبوله شي، یا ژر تـر ژره دې قبوله شي، خو چې په قبلېدو کې یې لږ وخت ولګېږي نو نا هیلی شي او دعاء کول پرېږدي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ستاسي د هر یوه دعاء قبلېږي، خو چې بېړه ونه کړئ، لکه چې څوک وایي سوال مې وکړ خو قبول نه شو. رواه ابو داود وابن ماجه

په یو بل حدیث شریف کې رسـول الله ﷺ د عجلې معنی واضـحه کړې، چې فرمایي: د بنده دعاء به په دوامداره توګه قبلېږي؛ ترڅو چې په ګناه او یا د خپلوۍ په قطعه کولو یې دعاء نه وي کړې، خو چې بېړه ونه کړي، پوښتنه ترې وشوه، چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم! عجله څه ته وایي؟ ویې فرمایل: چې ووایي: دعاء مې وکړه، خو د دعاء قبلېدل مې و نه لیدل، په دې وخت کې ستومانه شي، دعاء پرېږدي او بس یې کړي. رواه مسلم

**۳ -په دعاء کې له حده تجاوز کول :**

دا هم د دعاء د قبلېدلو له موانعو څخه شمېرل کېږي ,لکه چې الله تعالی فرمایي : «إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ» (الاعراف۵۵) بېشـــــکه الله تعالی تېری کوونکي نه خوښوي.

**له حده تېرۍ څه معنی؟**

**قـرطبـي رحمه الله ویلي:** په دعاء کـې له حده تجاوز په څو ډوله دی، لکه: په دعاء کې په زوره چغې او سورې وهل، یا یو انســـان د ځان لپاره داسې دعاء وکړي، چې ورسره مناسـبه نه وي، لکه: د پیغمبرۍ منزلت وغواړي، یا محاله دعاء کوي، یا د یوې ګناه سوال کوي، چې وربانديې قادر شي، یا داسې دعاء کوي، چې نه په قرآن کې روا وي او نه په سنتو کې.

**ابن تیمیة رحمه الله وایـي:** په دعاء کـې له حده تجاوز دا معنـی، چـې کله ناروا سـوال وي، د بېلګې په توګه په حرامو کې مرسـته غوښـتل، یا داســــې څه وغواړي، چې هغه الله ﷻ هېڅ نه کوي لکه د قیامت تر ورځې پورې ژوندي پـاتې کېدل او یا د بشریت له منزلت او درجې څخه پورته درجه غوښتل، چې خوراک او څښـاک ته یې اړتیا نه وي او یا داسې نورې دعاء ګانې، چې له حده پکې تجاوز شـــوی وي او الله ﷻ یې نه خوښوي.

او له حده بدتـرین تجاوز هغه دی، چـــې په دعاء کـــې د الله ﷻ سره غیرالله هم یو ځای کـــړي ځکه لوی ظلم، زیاتـــی او تجاوزشرک دی، همدارنګه له حده تجاوز کې دا هم راځي، چې سوال کول یې په عاجزۍ یا خاکسارۍ نه وي. څوک چې د مسکین، عاجز، خاکسار او وېرېدونکي په څېر سوال نه کوي، نو هغه له خپل حده تجاوز کوونکی او ظالم دی.





# د مهاجر

## او مهاجرت قوانين او ستونزې

شريف الله افضلي

که چېرې کوم انسان د مختلفو عواملو له کبله د خپل ټاټوبي پرېښودو ته اړ شي، لازمه ده، چې ارزښتونه په پام کې ونيسي، په اسلام کې د پينځه شيانو ساتنه اصل او بنسټ بلل شوی، چې هغه دين، عقل، نفس، نسل او مال دی، د یاد پينځه ضروریاتو ساتنه په ترتیب سره لازمه ده، او ارزښت یې هم په ترتیب سره یو تر بله لوړ دی، نو څوک چې د مال یا هم ځان ساتنې لپاره هجرت ته اړ کېږي داسې سیمې ته باید ولاړ نشي، چې هلته یې سر ته خطره وي او د سر د ساتنې لپاره داسې ځای ته ولاړ نشي، چې هلته یې دين ته خطره وي، لکه چې اوس مهال خلک د مال لاسته راوړنې په موخه په قاچاقي توګه، چې ۹۵ سلنه یې د سر خطره وي داسې ملکونو ته ځي، چې هلته یې نور بنسټيز ارزښتونه هم له خطر سره مخ کېږي.

مهاجرت او نصرت مونږ ته له نبي علیه السلام نه په میراث پاتې دي، نو کله چې څوک مونږ ته د مهاجر په توګه راشي، په مونږ فرض ده، چې د یو مسلمان انسان په توګه د هغه مرسته وکړو، «و ان استنصروکم فی الدين فعليکم النصر الا علی قوم بينکم و بينهم ميثاق....» دا هغه انساني او اسلامي اخلاق دي، چې د دين بنسټ پرې ولاړ دی، تر دې چې کوم کافر شخص هم له مونږ څخه د خپل ژوند او عيال د ژغورلو په موخه پناه غواړي، پناه ورکولی شو، لکه چې الله سبحانه و تعالی فرمايي: «و ان احد من المشرکين استجارک فأجره حتی يسمع کلام الله....» دا د انساني ټولنې اصلي بنه ده ، چې د يو مسلمان انسان په کړنو کې څرګندېږي، خو نن ورځ انسانيت خپله لاره ورکه کړې ده ، ځان ته يې وضعي قوانين جوړ کړي، او په هغو پسې په ټپو سترګو روان دي.

له هېواده وتل او مهاجر کېدل ډېری هېوادو کې ترسره کېږي. دا چې اوسني مهاجر اکثريت جبري، سياسي او اقتصادي مهاجر دي، نو ورته تبعيديان هم ويل کيدای شي. لومړی به د دې په اصلی مفهوم باندې پوه شو.

د نفوسو تحليل کې مهاجرت د نفوسو د حرکاتو ترڅنګ یو حرکت دی، چې وګړو شمېرنې کې په پام کې نيول کېږي، او په يوه سيمه کې د وګړو په شمېر سيده اغېزه لري. دا حرکات له پخوا څخه په نفوسو کې ليدل کېدل، خو نن ورځ یې سياسي او ټولنيز مفهوم ترلاسه کړی، او د نن ورځې یوه لویه ستونزه ګرځېدلې ده. هغه کسان، چې له خپل اصلي ټاټوبي څخه د یوه مجبوريت له مخې وځي او یو بل هېواد کې د اوسېدو غوښتنه کوي، هغوی ته پناه غوښتونکي وايي. مهاجرمنونکي دولتونه هغه مهال د پناه ورکولو پرېکړه کوي، چې مهاجر د خپلې ستونزې حقيقت ووايي. کله چې يو مهاجر د پناه اخيستونکي په توګه منل کېږي، تر یووخت پورې د کار اجازه او د مسافريت حق نه لري، خو کله چې قانوني مراحل بشپړ شي ، بيا نو د کار، سفر او نورو حقونو څخه برخمن کېږي. پنا اخيستنه له ۲۰۰۰ ز کال را وروسته ستونزمنه شوه، ځکه چې د مهاجرتونو بهير خصوصاً اروپا، استرليا او امريکا ته ډېر زيات شو، باید هېره نه کړو، چې يوه بله اصطلاح هم معموله ده، چې هغې ته بی کوره وايي، نو دا اصطلاح د چا لپاره ده؟

دا اصطلاح د هغه چا لپاره کارول کېږي، چې په نا خوښی سره د طبیعي پېښو یا جګړو له خپل هېواد یا سیمې څخه ایستل شوی وي، یا هم د ځانګړو شرایطو له مخې اړ شوی وي، چې له خپل هېواد څخه ووځي. یوه نړیوال قانون د بې کوره مهاجر تعریف داسې کړی: بې کوره هغه ځوک دی، چې د ډېر فشار او مجبوریت له مخې له خپل هېواده وتلی وي، یاد قانون د نړۍ ۱۹٤ هېوادونو لاسلیک کړی، دغه قانون لیکي: مهاجر بې کوره هغه ځوک دی، چې د یوې ځرګندې وېرې او ګواښ له مخې تاوتریخوالي سره مخامخ وي، او د یوه ځانګړي قوم یا نژاد، ځانګړي دین یا ملت له مخې یا په یوه ټولنیزه سیاسی ډله او ګوند کې د غړیتوب له کبله یا د یوې ځانګړې سیاسي عقیدې له کبله اړ شوی وي، چې له خپل هېواد څخه بهر بل هېواد کې ژوند وکړي، یعنې هغه ونشي کولای د پورتنیو شرایطو په لرلوسره په خپل اصلي هېواد کې ژوندوکړي ځکه، چې خپل امنیت څخه ډاډمن نه وي. یا هغه ځوک، چې د خپل اړوند هېواد تابعیت نه لري، خو بهر کې اوسېږي او نه غواړي خپل هېواد ته ستون شي بې کوره مهاجر نومول کېږي .

یو شمېر هغو هېوادونو، چې دغه تړون نه دی لاسلیک کړی، هم مهاجر مني. د بېلګې په توګه: ایران، مالیزیا او ترکیه. که څېرې کوم هېواد د مهاجرینو لپاره کوم قانون ونه لري، نو د مهاجرینو په چارو کې نړیوالو بنسټونو ته د فعالیت اجازه ورکوي، چې خدمات ترسره کړي.

هر هېواد کې د پناه اخیستلو مراحل او شرایط توپیر لري . اوسنی وخت کې استرالیا د زیاتو مهاجرو منونکي هېواد په توګه شرایط سخت کړي، خو کاناډا او آلمان مهاجر مني، په تېره بیا هغو کسانو ته، چې ځانونه یې په اصلي وطن کې په خطر کې وي، یا په ډېرو بدو شرایطو کې ژوند کوي، په آسانه توګه پناه ورکوي، خو اوس د پناه اخیستو غوښتنه ډېره زیاته شوې، نو ځکه قوانینو تغییر کړی او سخت شوي. پخوا په خطرناک حالت کې د پناه اخیستو لپاره ویزې ته اړتیا نه وه، اوس چې مهاجر زیات شوي، مهاجر منونکي لازم اسناد غواړي. مهاجر وروسته تر داخلېدو د یوې مودې لپاره "کمپ" کې انتظار کوي، ترڅو چې انتقال شي او بیا یې د اقامې کارت، بانکي کارت، د بیمې کارت او نور اسناد تکمیل شي، وروسته تر دې پروسې کور او کار ورکول کېږي. په غیر قانوني او قاچاقي ډول راغلو خلکوسره سخت قانوني چلند کېږي او کېدای شي، چې هېڅ سهولت هم ورته برابر نشي. مهاجر ته پناه هغه وخت ورکول کېږي، چې ژوند یې له ګواښ سره مخ وي، که هسې د ښه ژوند په موخه وتلی وي، نو پناه به ور نکړل شي. پردي وطن ته تګ ستونزې لري. مهاجر باید ځانته د مهاجرت کېس جوړ کړي، کله چې یو مهاجر د پناه اخیستو غوښتنلیک سپاري، باید مربوطه مقاماتو ته قانع کوونکي دلایل ووایي، یعنې ستونزه ثابته کړي. دوی باید شواهد او سند ولري، خو دا دومره ساده نه ده، لکه چې فکر کېږي. کله چې دوی د کېس یا دوسیې خبره کوي، نو معنا یې داده ، چې لازم راپورونه او شواهد هم له ځان سره ولري. هغه کسان، چې په غیر قانوني لارو په قاچاقي توګه بل هېواد ته مهاجر کېږي، هغه ته ناقانونه مهاجر وایي. دوی بې ویزې، بې سنده او بې پاسپورته دي، ځنې وخت ورته پټ شوي مهاجر هم وایي، چې ممکن ډېرسرګردانه شي. په دې توګه باید موږ د مهاجرت قوانینو سره آشنا شو.

تقریباً ټول هېوادونه د مهاجرت اړوند قوانین لري، دغه قوانین کېدای شي، له یوه هېواد څخه تر بل پورې توپیر ولري. قانوني مهاجر په معمولي ډول کومې ستونزې سره نه مخامخ کېږي، خو که قاچاقي او غیر قانوني مهاجر د پولیس منګلو ته ورشي، کېدای شي و ویستل شي، یا بندیان او یا هم جریمه شي. اوسني وخت کې زیات مهاجر په ترتیب سره: د سوریې، عراق، پاکستان، افغانستان او فلسطین دي. ډېر مهاجر د ترکیې، ایران او پاکستان له لارې اروپا او امریکا ته تللي دي.

**په مهاجر او مهاجرت پورې اړوند یو شمېر نور اصطلاحات:**

**داوطلبانه راستنېدل:**

کله چې مهاجر او بې کوره شوي ونشي کولای، چې یوه بهرني هېواد کې ژوندوکړي، او یا مناسب کار و نه مومي، نو غواړي، چې بېرته خپل هېواد ته ستون شي، داوطلبانه ستنېدونکی بلل کېږي، دغه ډول داوطلبان کولای شي، چې له کوربه هېواد څخه یا د مهاجرت له نړیوال سازمان څخه د مرستې غوښتنه وکړي، کېدای شي دوی ته د ټکټ لګښت هم ورکړي. ځینې وخت مهاجرینو ته د مهارتونو د زده کړې شپږ میاشتني حرفوي کورسونه دایرېږي، تر څو خپل هېواد ته تر ستنېدا وروسته ځانته یو کوچنی کاروبار پیل کړي.

**اخراج:**

له کوربه هېواد څخه د مهاجر ایستل په داسې حال کې چې هغه وتل نه غواړي اخراج بلل کېږي. دا هغه مهال سر ته رسېږي، چې د کوربه هېواد حکومت په دې باوري او ډاډه نه وي، چې د مهاجر ژوند په ریښتوني بنه په خطر کې دی، او یا مهاجر هلته کوم جرم ترسره کړي او د تابعیت حالت یې هم لا معلوم نه وي ، نو په داسې حالت کې که مهاجر د پناه غوښتنلیک هم ورکړی وي ایستل کېږي، تر دې چې دا ډول کسان که له یوه هېواد څخه بل هېواد ته ځي، نو د کوربه هېواد عام وګړي هم کولی شي، چې دا مجرم ونیسي، د بېلګې په توګه: ډېر خلک له ایتالیا څخه یونان ته یا له یونان څخه ترکیې ته د تګ پر مهال نیول شوي دي.............

پاتې په بله ګڼه کې




# د سولې اهمیت

نورالحق عمرخېل

الله ج چې انسان پیدا کړ دوه لارې یې ور وښودې، یوه نېکه او بله بده او د دې دواړو په ټاکنه کې یې هم ورته اختیار ورکړ، چې څوک د ښې لارې پلویان شول او څوک د بدې لارې پلویان شول او بیا وروسته دوی په خپلو کې سخت اختلاف ته ورسېدل، نو یو بل باندې یې مستقیماً حملې پیل کړې، چې د دې د حل لپاره الله ج دوی ته د حل لارې چارې هم وروښودې، چې له هغو څخه یوه هم سوله ده، چې د انسانانو خپل منځي شخړې پرې حل کېږي.

سوله هغه الهي نعمت دی، چې په برکت سره یې انسان د ژوند په هدف پوهېږي او د آرمتیا ساه اخلي، په همدې وجه اسلام کې سوله له یوه ځانګړي اهمیت نه برخمنه ده، نو په دې اړه د ډېر تحقیق لپاره قراني ایتونو او حدیثونو ته ورځو او دغه موضوع هر اړخیزه څېړو.

الله ج خپل نبي او اوس وخت کې مؤمنان په خپل نصرت قوي کړي او تل یې دوی ته هغه فتحې او نتونه ورکړي، چې مؤمنانو یې خوبونه هم نه لیدل، په لنډه توګه د حدیبې صلحې ته اشاره کوو، چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له مشرکانو سره هغه شرطونه ومنل، چې ظاهراً مؤمنانو ته تاوان و او اصحابو ته ښه نه ښکارېدل، خو الله ج پکې ډېر خیر او برکت ایښی و .

مؤمنانو ټینګار کاوه او ویل یې، چې د الله ج رسوله! دلته مونږ ته تاوان دی، خو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له کفارو سره سوله وکړه، چې دا پېښه، په بشپړه توګه د سولې، په اهمیت دلالت کوي او له ورایه معلومېږي، چې اسلام جنګ نه خوښوي او تل په سوله باندې ټینګار کوي. سوله که د دولتونو ترمنځ وي او که د ټولنو او خلکو ترمنځ، ځانګړی اهمیت لري، چې په لاندې کرښو کې پرې بحث کوم .

لومړی ـ الله تعالی سوله فتحه نوملې او په قران کې یې ورته د فتحې کلمه کارولې .الله تعالی فرمایي: «إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا * لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا»

ژباړه : موږ تا ته ځرګنده فتحه درکړې، داسې فتحه، چې الله تعالی به د هغې له امله ستا مخکني او وروستني ګناهونه در وبښي او پر تا به خپل نعمتونه بشپړ کړي او سمه لاره به در وښايي.

په داسې حال کې، چې الله تعالی جګړه په مؤمنانو فرض کړې او دا یې هم ویلي، چې هغه تاسې ته ناخوښه برېښي، خو الله تعالی د خلافت د قیام او د دین د تکمیل او همدارنګه له مظلوم څخه د ظلم د دفعې لپاره دا مکروه عمل، چې وژنه او تورتم دی روا کړی او لوی خیر یې پکې ایښی. الله ج دلته فساد په صلاح دفع کوي او ظلم په عدل دفع کوي، نو هر کله چې بنیادي موخې پرته له جګړې په سوله ایزه توګه لاسته راتلای شي، جګړه ناروا بلل کېږي، ځکه جګړه ورانی او تباهي ده او اسلام تل د فساد خلاف او د امن او سکون پلوي کوي، نو دلته دغه حسن لغیره عمل قبیح او ناروا ګرځي، ځکه چې جنګ کاملاً ورانی او تیارې ده او اسلام تل د فساد خلاف او د امن او سکون پلوي کوي.

نو له دې امله الله ج سوله، چې دومره لوی اهداف پرې مرتب کېږي فتحه نومولې او جنګ ته یې هغه مهال د مشروعیت بڼه ورکړې، چې نومړي اهداف لاسته نه راځي، لکه الله تعالی فرمایي:

ژباړه :تاسې جنګ وکړئ، تر هغه چې فتنه ختمه شي او ټول دین د الله ج شي (د الله ج دین حاکم شي) که دا فتنه او فساد پرته له جګړې له منځه تللو، نو هلته جنګ په کامله توګه نا مشروع ګرځي، نو دلته هم الله ج صلحې حدیبیې ته د فتحې نوم ورکړ، ځکه د حدیبیې د صلحې، په نتیجه کې مسلمانانو هغه ستر اهداف لاسته راوړل، چې چا په خوب کې هم نه لیدل او سوله ځکه له فتحې سره مشابه کېدای شي، چې د دواړو په نتیجه کې جګړه پای ته رسېږي.

همدارنګه د صلحې حدیبې، په اړه زیات تشریحات شته، چې په لنډ ډول ورته اشاره کوم.

ژباړه :له ابن مسعود رض نه روایت دی، هغه وایي: مونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له حدیبیې نه راوګرځېدو، نو مونږ له رسول الله سره تللو، چې وحې راغله او کله به چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته وحې راتله ډېره سخته به پرې تمامېدله، کله چې وحې بشپړ شوه او په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې شته تکلیف پای ته ورسېد، نا څاپه یې حالت بدل شو، خوشحالي یې څرګنده کړه او د فتحې زیری یې د دې آیت په لوستلوسره ورکړ، ژباړه: موږ تا ته څرګنده فتحه درکړه، د دې لپاره، چې الله ج تا ته د دې په وجه ستا مخکني او وروستني ګناهونه وبښي او پر تا خپل نعمتونه پوره کړي او سمه لاره در وښايي. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وویل: څومره لویه خوشحالي ده، نو مونږ پوه شوو، چې له حدیبې نه لویه فتحه بله نشته او دا د څو وجهو نه، چې په لاندې څو کرښو کې یې تاسې ته وړاندې کوم.

اول - کفار او مؤمنان سره مخلوط شول، د مسلمانانو ښه او نېک پیغام په دوی مستقیماً اغېزه وکړه او ډېری یې د درې کلونو په دوران کې په پوره توګه مؤمنان شول او د مسلمانانو جماعت د تعداد په لحاظ ډېر زیات شو.

امام شعبي وایي: په حدیبیه، کې هغه څه د مسلمانانو لاس ته ورغله، چې په ډېرو وختونو او غزواتو کې نه وه ورغلي.

دویم – په دې کې مسلمانانو ته ښنه وشوه، چې دا د هغوی لپاره یو ښه زیری و، چې شاید په نورو ځایونو، وختونو او پرېکړو کې دا ډول معامله له مؤمنانوسره د الله ج له لوري نه وه شوې، لکه چې الله ج په دې ایت کې اشاره کوي.

ژباړه: بېشکه الله ج له مؤمنانو نه راضي دی، کله چې دوی له تاسره د ونې لاندې بیعت کاوه او خپل سرونه یې د الله ج په لاره کې نذرانې ته وړاندې کول. یوه یادونه باید وشي، چې دا د الله ج ښنه، فتحه او نصرت مؤمنانو ته هغه وخت ورکړل شو کله چې دوی د الله ج له رسول سره په مرګ باندې بیعت وکړ او پرېکړه یې وکړه چې عثمان رض به د مشرکینو له منګولو خلاصوي او تر هغې به مبارزه کوي، چې څو پورې عثمان رض د دوی له منګولو خلاص شوی نه وي او یا یې خپل سرونه نه وي قرباني کړي، نو هماغه و، چې الله ج د دوی غیرت ته په کتو پرته له جګړې سترې فتحې ورکړې.

اوس هم سوله هغه وخت فائده لري، چې مسلمانان هر ډول قرباني ته تیار وي، خو مسلمانان د یو لوی مصلحت په وجه له جنګ نه تېرېږي، هغه هم هغه مهال، چې کافر سولې ته غاړه کېږدي .الله ج فرمایي:

ژباړه :که دوی سولې ته غاړه کېښوده، نو ته هم ورته غاړه کېږده او په الله ج توکل او باور وکړه.

نو هله به سوله کوو، چې د مسلمانانو مصلحت پکې وي او یا کفار ورته غاړه کېږدي او که داسې مسئله نه وه، نو مسلمانان به خپله مبارزه فعاله او تانده ساتي، څو الله ج کفار ذلیله، شرمېدلي او له ناکامی سره مخ کړي. دا له دې امله، چې الله ج په قتال او جهاد باندې ډېر ترکیز کړی او جنت یې د تورو ترسیوري لاندې ګرځولی.

لکه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم، په یو حدیث کې فرمایي:

ژباړه: جنت د تورو د سیورو لاندې دی، چې په دې اړه زیات دلائل، نور هم موجود دي.

درېیم: بیعت الرضوان ترسره شو او الله ج له مؤمنانو خپله رضامندي ښکاره کړه، چې دا د مؤمنانو لپاره د خوښۍ یو زیری و.

څلورم: په دې کې مسلمانانو ته د خیبر ځمکې لاسته ورغلې او د مسلمانانو اقتصاد لا پیاوړی شو.

پینځم – په دې وخت کې بله غلبه حاصله شوه، چې روم ته په فارس باندې وه، چې دا هم د مسلمانانو لپاره یوه خوشحالي وه، ځکه اهل کتاب په مجوسو باندې کامیابي حاصله کړه او اهل کتاب مسلمانانو ته نږدې وو، نو ځکه خوشحاله شول.

دا په مختصر ډول د سولې فوائد شول، چې د حدیبیې په سوله کې مسلمانانو لاسته راوړل.

پاتې په بله ګڼه کې



# کمک به دیگران

مولوی ضیاءالحق

انســـــان یک موجود اجتماعی است و اجتماعي بودنش از ویژگی های طبیعي وی میباشــــد. زندگیش دائماً در کنار مردم و با مردم است، از این رو معاشرت وهم نشـــینی افراد امری طبیعی وضروری است. افراد هرچه همدلی ودوستی بیشتر داشته باشند آثار مطلوب تری در جامعه واجتماع نمایان می شـــود. یکی از شـــیوه های اجتماعی بودن انسانها کمک به دیگران است.

کمک به دیگران یک عمل بسا شایسته است که در اسلام بر آن تأکید شـده است. کمک ها نظر به اشخاص، ظروف، و نیازها انواع مختلف دارد که کمک به مســـــتمندان یکي از انواع آن میباشد، خداوند متعال بناء بـــر حکمت والای خودش رزق ها را میان بنده هایش تقســیم نموده است، برخي را چنان ثروت و دارایي هنگفتی داده است که بر علاوه بر ضروریاتش، میول و خواهشـــاتش نیز بر آورده شده است، برخي را به قدر متوسط داده است و برخي را آنقدر اندک داده است که امرار زندگی روزمره اش طاقت فرسا شده است. کنه این حقیقت را فقط ذات خود الله تعالی میداند وآنچه که ما در پرتو قرانکریم میدانیم اینست که تقسیمات متفاوت لوازم معیشتی میان انســـانها بناء بر ضرورت چرخش نظام روی زمین است. یعنې کسې آمر و کسي مأمور، کسې صاحب کار و کسې مزدور کار، کسې ثروتمند و کسی مستمند که هر کدام در جایگاه خود مورد امتحان الهی قرار دارد. یعنې ثروتمند در ادای شکر نعمت رباني و استعمال آن در اطاعت و مســـتمند در صبر و شکیبایي بر دشواري ها مورد آزمون قرار دارد. از اینجاست که موضـــوع کمک و همکاري مطرح شده است که دارای فواید اجتماعي و اخروی میباشد.

الف ـ فواید اجتماعي آن اینست که ضرورت های روزمره مستمندان مرفوع میشود، و میتواند که زندگي نسبتا آرام داشته باشد و در عین وقت شخص کمک کننده با دیگران، کمک کردن با خود است، چنانچه از نصوص شرعي ثابت شده است که میفرماید: هر که با دیگران کمک کند، خداوند متعال در مواقع نیازش با وی کمک میکند.

ب ـ فواید اخروی آن اینست که حکم خداوندي بجا شده و سعادت اخروی را نصیب میشود. این دستاورد ها مشروط بر این است که کمک به گونه انجام نشود که کمک گیرنده گان شرمنده یا ذلیل شوند بلکه تا ممکن است سري و مخفیانه انجام شود و نیز مورد منت گذاری قرار نگیرد.

شناسايي و انتخاب کمک شونده گان امر مهم در کمک ها محسوب میشود. به عنوان مثال، ما درجامعه ای زندگی میکنیم که گراف انسان های فقیر مانند بیوه، یتیم ومهاجرین که جدیدا از کشورهای بیگانه وارد کشور شان شده اند شدیدا بالا رفته ونیاز به کمک های اولیۀ زندگی شان دارند، باید طبق توان به آنها کمک کرد و همسایه گان از جمله مستحق ترین اشخاص اند که در حق ایشان برای ما بیشتر توصیه شده است که آنهارا هرگز فراموش نباید کرد.

خداوند ذات رحیم و مهربان است، او تعالی میخواهد که خوبی ها و مهرباني های خود را بدست ما در دست مستمندان قرار دهد، گره های دشوار بندگانش را بدست ما بگشاید، شرف گذاشتن نان را بر سفره گرسنگان به ما بخشد، دست ما را انتخاب کرده است تا به گونه نوازش بر سر یتیم کشیده شود.......

ما انساها از خود هیچ چیزی نداریم، همه محتاج بارگاه الله متعال هستیم، سر چشمه هر کاری که انجام میشود لطف و مرحمت خداوندی است، پس خوشا به حال انسانهای که ذریعه انتقال لطف و مرحمت خداوند برای دیگران شوند.

انجام کارهای خوب هیچ محدودیتی ندارد، کمک به دیگران ممکن است مالی یا معنوی باشد، کسی که توانایی مالی خوبی دارد می تواند نان را روی سفره فقرا بگذارد و شخص دیگر ثروت چندانی ندارد اما سرشار از دانش است میتواند از این مسیر وارد خدمت به همچون انسان های بیچاره شود.

با هم زیستی یکي از مزایای خوب انسانی است. هر انسان در طول دوره زندگی خود ممکن بارها دچار مشکلات فراوان شود که به تنهایی نتواند آنرا حل کند. خانواده، دوستان، همسایگان و حتی در برخی موارد نا شناسان می توانند برای حل مشکلات اقدام نموده با وی کمک کنند. اگر فکر کنیم که ما هیچ وقت دچار مشکل نمی شویم و به کمک دیگران احتیاج پیدا نمی کنیم اشتباهی بزرگ است چون ما انسان ها آنقدر توانمند نیستیم که بتوانیم تمام مسائل پیش آمده را به تنهایی بر طرف کنیم، کمک کردن به نیازمندان در حقیقت کمک به خودمان است زیرا ما نتیجه اعمال خوب و بد خود را خواهیم دید و کمک ما باعث به وجود آمدن احساس رضایت قلبی خود ما و خوشنودی خداوند از ما می شود و به زندگی ما برکت می بخشد. این موضوع از اهمیت ویژۀ در نزد ما افغان ها و دین اسلام برخوردار است.

آیات و احادیثی زیادی وجود دارد که ما را تشویق به کمک به دیگران می کند که این مقاله کوتاه گنجایش آنرا ندارد، افراد خوب همیشه محبوب دیگران هستند و باعث می شوند دنیای بهتری در اطراف خود بسازند. آنها همیشه سعی می کنند به دیگران کمک کنند زیرا نیکوکاری می تواند جهان را بسیار زیباتر کند. زندگی در فضای آرام و محبت ذات البینی و از بین رفتن کدورت ها آرمان دیرینه همه افغانها است، اگر ما دست با هم بدهیم و در پی کمک به یک دیگران باشیم الله متعال هم با ما کمک و یاری کرده و آرمان های ما را بر آورده میکند. این کار به خداوند متعال آسان است و او ولی متقیان است.

**انسان های خوب :**

یکی از ویژگیهای انسان های با فضیلت این است که آنها هرگز از دیگران به عنوان وسیله ای برای رسیدن به خواسته های دنیوی خود استفاده نمی کنند بلکه با دیگران مهربان هستند، ویژگی دیگری آنها رفتار مثبت با دیگران است، بر ماست که خود هم مصدر خوبی ها باشیم و به دیگران هم بیاموزانیم که نیکو کار باشند و مصدر خدمت به دیگران گردند، زیرا الله متعال نیکو کاران دوست دارد.





# د رواني ناروغانو

## د ساتنې او پالنې مرکز

ډاکتر میرویس دانش

رواني ناروغان د ټولنې تر ټولو ډېر کمزوري او زیان منونکي وګړي دي، نو له دې امله اوږدمهالې پالنې، درملنې او لاس نیوي ته اړتیا لري. له دې امله افغاني سرې میاشتې، چې له کلونو را هیسې په هېواد کې د یو خیریه بنسټ په توګه بشر پاله خدمات تر سره کوي او انساني کرامت ته په پام له تعصب او تبعیض پرته وړیا خدمات خپله کاري وجیبه بولي او په خپل کاري مهال وېش کې کمځواکو، بې وزلو، ناروغانو، یتیمانو، کونډو، معلولینو او معیوبینو ته له هر څه د مخه لومړیتوب ورکوي، د هېواد د نورو زونونو بر سېره د ختیځ زون جلال آباد ښار په پینځمه ناحیه کې یې هم د عمومي رئیس الحاج مولوي مطیع الحق خالص له حکم سره سم ۱۴۴۴/۷/۱۶ ه ق نېټه د رواني ناروغانو د ساتنې او درملنې لپاره د لومړي ځل لپاره افتتاح کړ. دا چې نوموړی تعمیر د رواني ناروغانو د ساتنې او درملنې په معیار برابر نه و، د جلال آباد ښار په څلورمه ناحیه کې یې د زراعت ریاست اړوند یو تعمیر په کرایه و نیوو، چې تر دا مهاله په همدې ځای کې د ناروغانو ساتنه او درملنه کېږي.

اوس مهال په مرکز کې په لسګونه نارینه اوزنانه ناروغان په بستر کې داخل دي، چې رواني وضعیت او سن ته په پام سره په درې ګروپونو وېشل شوي. دارنګه په سلګونو نور ناروغان په خپلو کورونو کې د طرزالعمل او لایحې مطابق د مشمولو ناروغانو په څېر تر درملنې او څارنې لاندې دي. د یادونې وړ ده، چې تر اوسه ۳۰ تنه نارینه اوزنانه ناروغان روغ شوي او په ټولنه کې یې عادي ژوند پیل کړی.

په مرکز کې د شامل شوو ناروغانو د رواني آرامتیا او جسمي روغتیا د لا ښې ساتنې په موخه د نوي ناروغانو د جذبولو لپاره لاندې شرطونه ټاکل شوي دي:

۱ ـ رواني ناروغ به له یوې معتبرې مرجع له خوا مرکز ته معرفي کېږي.

۲ ـ د ناروغ د کورنۍ مشر باید د زون ریاست ته عارض شي.

۳ ـ ناروغ ته به د معایناتو صحي فورم ورکول کېږي، چې د معایناتو په کولو سره څرګنده شي چې ناروغ ساري ناروغۍ نلري.

۴ ـ ناروغ باید معتاد نه وي.

۵ ـ ناروغ باید له ناروغتیا مخکې مجرم نه وي او ددې د اثبات لپاره د هغه سرپرست باید د اړوند ولایت امنیه قومندانی څخه د عدم مسؤلیت ډاډ په لیکلې اورسمي بڼه ترلاسه کړي او د ناروغ پالنې اداري ته يې وسپاري.

۶ ـ د ناروغ سرپرست به مرکز ته ژمن پاڼه ورکوي.

د یادوشرطونو تر بشپړولو وروسته ناروغ په مرکز کې جذبیږي. لومړی يې ویښتان اصلاح کیږي بیا لمبول کیږي او ځانګړې جامې ور اغوستل کیږي او وروسته له هغه اړوند اتاق ته لیږدول کیږي.

**د ناروغانو خوراک:**

شاملو ناروغانو ته له مینوسره سم په اونی کې څلور ځلي غوښه، چې په ترتیب سره یوه ورځ د خوسي غوښه، یوه ورځ د پسه غوښه، یوه ورځ د چرګ غوښه او یوه ورځ قیمه ورکول کیږي، دارنګه موسمي سابه، ترکاري او میوه هم په مینو کې شامل دي.

**د رواني حالت معاینه:**

د رواني ناروغيو په تشخیص کې د ناروغ د رواني حالت معاینه ډېره اړینه او مهمه ده، رواني حالت له ناروغ سره د خبرو کولو پر مهال تر سره کیږي او ځیني وخت په واټ کې د ناروغ څارنې ته اړتیا پیښیږي.

د رواني حالت په معاینه کې باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي:

۱ ـ د ناروغ خبرې

۲ ـ عاطفه

۳ ـ مزاج

۴ ـ تفکر

۵ ـ طبیعت

۶ ـ درک




**د ناروغ عمومي بڼه او کړه وړه:** په دې برخه کې باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي.

**۱ ـ عمر:** ځینې ځانګړې ناروغۍ په خاص عمر کې وي، لکه Dementia په لوړ عمر کې رامنځته کیږي.

**۲ ـ پاکوالی او د جامو اغوستلو طرز:** د depression او Schizophernia ناروغانو شخصي حفظ الصحه په خراب حالت کې وي، کالي يې خیرن سر او ږیره يې نا پاکه او غیر منظم وي، خو بر عکس د Mania ناروغانو جامې او ظاهري بڼه له حالت سره سمون نه لري او هغه ناروغان، چې cognitive impairment لري لکه د dementia ناروغان د جامو اغوستلو یو ډول ځانګړې بڼه لري، د بېلګې په توګه تڼۍ ښکته پورته او غلطې تړي.

**۳ ـ د مخ منظره یا څېره:** د مخ ظاهرې بڼه یا څېره د مزاج یا خلق په اړه معلومات ورکوي، لکه ژور خپګان، د ناروغ د خولې کنجونو ښکته خوا ته تاو شوي وي او په تندي يې اوږدې ګونځې لیدل کیږي او د anxiety یا اضطراب لرونکو ناروغانو په تندي کې عرضاني ګونځې لیدل کیږي.

**۴ ـ وضعیت یا: posture** د ژور خپګان درلودونکي ناروغان خپل سر مخې لور ته زوړند ساتي، مضطرب ناروغان د چوکی په غاړه کښېني او نارامه معلومیږي او معمولا د خپلو کالو، نوکانو، او ګاڼوسره مصروف وي، خو بر عکس د مانیا ناروغان د ناستې په حالت کې ډېر با اعتماده او فعال وي او د سیکزو فرینیا ناروغان عجیب د ناستې وضعیت لري.

**۵ ـ د ستر ګو تماس:** Eye Contact د ژور خپګان او سیکزو فرینیا ځیني ناروغان د ستر ګو سم تماس نشي ساتلای.

**د رواني ناروغانو ځیني عمده او مهم اعراض او علایم:**

**۱ ـ اضطراب یا anxiety:** د وېرې په تمه څک پاتې کېدل، د غږ په وړاندې حساس والی، د تخریش درلودل، نا آرامي، خراب فکري تمرکز، اندېښمن فکرونه، د خولې وچوالی، په بلع کې ستونزې، په سینه کې نا آرامي، په نهایاتو کې د ستنو چوخېدل او د خوب بې نظمي.

**ژور خپګان یا: Depression** د ژور خپګان اعراض په دوه ګروپونو وېشل شوي :

**الف ـ وصفي اعراض:** خپه مزاج، د اړیکو کموالی او کمه انرژي وصفي اعراض بلل کیږي.

**ب ـ غیر وصفي اعراض:** په اشتهاء کې کمښت، د خوب تشوش، د فکري تمرکز او تصمیم کمښت، منفي فکرونه، د جنسي فعالیت کمښت، په کار او فعالیت کې سستي........



افغاني سره میاشت په بېړنیو حالاتو کې د پېښځپلو لاسنیوي ته وردانگي.




جمعیت هلال احمر افغانی بر محور رضاکاری استوار است.